وَرَتِّلِ الْقُرْاٰنَ تَرْتِيْلًا ۝. [سُوْرَةُ الْمُزَّمِّلِ: 4]

# د تجوید علم

لیکوال: شاه ولي ځاځی

Ketabton.com

Prepared by:
Shah Wali Zazai
Shahwalizazai87@gmail.com
+93771685095

ketabton.com - The Digital Library



ketabton.com - The Digital Library

# خپلې خبرې

د هر څه د مخه د الله ﷻ ډېر شکر اداء کوم، چې ماته يې دومره توان او توفيق راکړ، چې د تجويد علم په اړه کتاب وليکم.

د قرآن کريم د تجويد زده کړه خورا ګټه وره ده. د تجويد علم ډېر مهم علم دی، ځکه د قرآن کريم سم لوستل د الله ﷻ امر دی او قرآن کريم سم لوستل پر قرآن کريم د پوهيدلو او پر هغه د عمل کولو لاره ده.

د تجويد په علم کې زيات کتابونه ليکل شوي، چې هر يو يې خپلې ځانګړتياوې لري. د دغه کتاب هم يوه مهمه ځانګړتيا دا ده، چې ټولې تجويدي قاعدې په رنګونو باندې نښه شوي، ترڅو هر زده کوونکی او لوستونکی په اسانی ورڅخه فهم وکړي او د دغه علم په زده کولو کې ورسره مرسته وکړي.

کله چې د پوهنتون په دوره کې وم د هغه وخت راهيسې مې د کتاب ليکلو او د کتاب ژباړلو سره زياته ليولتيا پيدا شوه او لومړی سر کې مې وغوښتل د تجويد علم په اړه يو کتاب وليکم، ځکه چې د تجويد علم زده کړه ډېره ضروري ده.

زما ډېره ليولتيا وه، چې زه د تجويد د علم په اړه يو کتاب وليکم. همدغه ليولتيا د دې سبب شوه، چې ما دغه کتاب وليکلو. د کتاب ليکلو په وخت کې ډېرې منابع تعقيب شوي، هره موضوع په ډېر دقيق ډول څېړل شوې، ترڅو هره موضوع په کره او دقيق ډول وليکل شي؛ مختلف اسلامي سايټونه او کتابونه تعقيب شوي، ترڅو د غلطيو څخه پاك او کره واووسي. بيا هم هيڅ انسان له تېروتنو څخه خالي نه دی، که د کتاب په هره برخه کې د ژباړې، مفهوم رسونې، جمله بندی، ټايپ او ډيزاين نيمګړتياوې مو تر سترګو شوې، نو راته يې په ګوته کړئ، ستاسې هره معقوله مشوره او نيوکه به په ورين تندي منل کيږي.

په درنښت

Whatsapp Numbers: +93771685095 - +93798263526
Email Address: shahwalizazai87@gmail.com
Facebook Adress: Shah Wali Zazai

ketabton.com - The Digital Library

# د مطالبو لړلیک


موضوع صفحه

سریزه........ 1

لومړی فصل

د قرآن کریم فضیلت........ 2

د قرآنکریم د فضیلت څو مثالونه د قرآن په ژبه........ 2

د قرآن د زده کړې او نورو ته د ور زده کولو فضیلت........ 3

د قرآنکریم د تلاوت فضائل........ 4

د ماهر قرآن مقام او منزلت........ 4

د قرآنکریم شفاعت........ 5

درې ډلې به بې حسابه جنت ته داخلیږي........ 6

د قرآنکریم تلاوت کوونکي په غافلینو کې نه شمېرل کیږي........ 6

د قرآنکریم په تلاوت کوونکو د سکنې نزول........ 6

د قرآنکریم د تلاوت اداب........ 7

دوهم فصل

د تجوید علم........ 10

د تجوید تعریف........ 10

د تجوید د علم موضوع........ 10

د تجوید علم غرض........ 10

د تجوید علم فایده او ثمره........ 10

د تجوید د علم حکم........ 10

د تجوید د علم فضیلت........ 11

د تجوید د علم ارکان........ 11

د تجوید علم اهمیت........ 11

لحن (غلطي) او ډولونه یې........ 11

لومړی ـ جلي لحن (ښکاره غلطي)........ 11

دوهم ـ لحن خفي (پټه غلطي) او ډولونه یې........ 12

د قرائت د شروع مسایل........ 12

لومړی استغاذه........ 12

د استغاذه احکام........ 12

ketabton.com - The Digital Library

دوهم بسمله ........ 13
د بسمله احکام ........ 13
د استغاذه او بسمله د فصل (قطع) او وصل (پیوسته) صورتونه ........ 13
د بسم الله او سورت ترمنځ د فصل او وصل صورتونه ........ 13
حرکات ........ 14
سکون ........ 14
تنوین ........ 14
شد ........ 14

## دریم فصل

د حروفو مخرجونه (مخارج) ........ 15
۱ـ اجمالي مخرجونه ........ 15
۲ـ تفصیلي مخرجونه ........ 15
أقسام اللسان (د ژبې برخې او اقسام) ........ 16
الأسنان (غاښونه) ........ 16
د غاښونو ډولونه ........ 16
۱ـ ثنایا غاښونه ........ 16
۲ـ رباعي یا رباعیات غاښونه ........ 16
۳ـ انیاب غاښونه ........ 16
۴ـ اضراس غاښونه ........ 16
د حروفو مخارج دوهمه برخه ........ 17
لومړی – الحلق (ستونی) ........ 17
دوهم ـ اللسان (ژبه) ........ 17
دریم ـ شونډې ........ 18
څلورم ـ خیشوم (د پوزې بېخ یا د پوزې آخره برخه) ........ 18
پنځم ـ جوف (د خولې داخلي خالیگاه) ........ 19
د مخارجو د لنډیز جدول ........ 19

## څلورم فصل

د وقف پیژندنه ........ 21
د وقف کیفیت (څرنگوالی) ........ 21
د وَقَفْ کیفیت ........ 21
۱ـ وقف بِالسکُوْن ........ 21
۲ـ وقف بِالإسکان ........ 21

ketabton.com - The Digital Library


۳ـ وقف بِالاِشمَام ........ 21
۴ـ وقف بِالرَوْم ........ 21
۵ـ وقف بِالاِبْدَال ........ 22
وقف محل (ځای) ........ 22
۱ـ وقف تام ........ 22
۲ـ وقف کافي ........ 22
۳ـ وقف حسن ........ 23
۴ـ وقف قبیح ........ 23
سکت ........ 24
قطع ........ 24
نون قطني ........ 24
د وقف او وصل علائم ........ 25


## پنځم فصل


د ساکن نون او تنوین احکام ........ 27
۱ـ ادغام ........ 27
الف ـ غُنه لرونکی ادغام ........ 27
ب ـ بې غُنې ادغام ........ 27
دغُنه لرونکي ادغام مثالونه ........ 27
د بې غُنې ادغام مثالونه ........ 27
په عمومي توګه د ادغام اقسام ........ 28
۱ـ د متجانسین ادغام ........ 28
۲ـ د مثلینو ادغام ........ 28
۳ـ د متقاربینو ادغام ........ 29
۱ـ کامل ادغام ........ 29
۲ـ ناقص ادغام ........ 30
اقلاب ........ 30
اظهار ........ 30
اخفاء ........ 31
د ساکن میم احکام ........ 34
۱ـ ادغام ........ 34
۲ـ اخفاء ........ 34
۳ـ اظهار ........ 34

ketabton.com - The Digital Library

د ساکن میم احکامو لنډیز ........ 35
غُنه ........ 36

## شپږم فصل

د را احکام یا د را قاعدې ........ 37
د حرف لام احکام ........ 39
۱ـ (شمسي حروف) (ال) شمسي ........ 39
۲ـ (قمري حروف) (ال) قمري ........ 39
د همزه وصل احکام ........ 40
د همزې ډولونه ........ 40
همزه وصل ........ 40
همزه قطع ........ 40
د همزه وصل حرکات ........ 40
۱ـ حرف ........ 40
۲ـ اسم ........ 41
۳ـ فعل ........ 41

## اووم فصل

د مد احکام ........ 42
۱ـ اصلي (طبعي) مد ........ 42
۲ـ فرعي یا طویل مد ........ 42
لومړی ـ اصلي یا طبعي مد ........ 42
دوهم ـ فرعي مد ........ 42
د اصلي (طبعي) مد ډولونه ........ 42
۱ـ مد بدل ........ 43
۲ـ مد عوض ........ 43
۳ـ اصلي حرفي مد ........ 43
۴ـ مد صله صغری یا صله قصیر ........ 43
۵ـ مد تمکین ........ 44
د فرعي مد احکام ........ 44
د فرعي مد ډولونه ........ 44
۱ـ متصل مد ........ 45
۲ـ منفصل مد ........ 45

ketabton.com - The Digital Library

۳ـ مد صله کبری ........ 45
۴ـ مثقل کلمي مد ........ 45
۵ـ مخفف کلمي مد ........ 45
۶ـ مثقل حرفي مد ........ 45
۸ـ مد عارض لسکون ........ 46
۹ـ د لین لازم مد ........ 46
د مد ډلبندي ........ 47

## اتم فصل

د حروفو صفات ........ 48
د صفاتو پيژندنه ........ 48
د صفاتو ډولونه ........ 48
لومړی ـ صفات لازمه ........ 48
دوهم ـ صفات عارضه ........ 48
د صفات لازمه ډولونه ........ 48
لومړی ـ متضاد لازمه صفتونه ........ 49
۱ـ جهر ........ 49
۲ـ همس (مهموسه) ........ 49
۳ـ شدت ........ 50
۴ـ رخوت ........ 50
د شدت او رخوت په منځ کې صفت ........ 50
توسط ........ 50
۵ـ استعلاء (مستعليه) ........ 50
۶ـ استفال (مستفله) ........ 51
۷ـ اطباق ........ 51
۸ـ انفتاح (منفتحه) ........ 51
۹ـ اذلاق ........ 51
۱۰ـ اصمات (مصمته) ........ 51
د هغه تورو جدول، چې متضاد صفتونه لري ........ 52
دوهم ـ غیر متضاد لازمه صفتونه ........ 52
۱ـ انحراف ........ 52
۲ـ قلقله ........ 52
د قلقلې اقسام ........ 53

ketabton.com - The Digital Library

• قلقله کبری ........................................................53
• قلقله وسطی ........................................................53
• قلقله ضغری ........................................................53
۳ـ لین ........................................................53
۴ـ صفیر ........................................................53
۵ـ تکریر ........................................................53
۶ـ تفشي ........................................................54
۷– استطال ........................................................54
د اصلي غیر متضاد صفتونو د حرفونو جدول ........................................................54

## نهم فصل

حروف مقطعات ........................................................ 55
د ځینو مشابه حروفو تر منځ فرق ........................................................ 56
د سورت فاتحه (الحمد لله) تجوید ........................................................ 57
لسم فصل ........................................................ 60
د تلاوت طریقې ........................................................ 60
۱ـ ترتیل ........................................................60
۲ـ حدر ........................................................60
۳ـ تدویر ........................................................60
۴ـ تحقیق ........................................................60
د قرآن کریم قراءات ........................................................ 61
د قرائت د اختلاف حکمت ........................................................62
د قرآن کریم تعلیم او حفظ ........................................................ 62
د ځینو مهمو قاعدو یادونه ........................................................ 63
ماخذونه ........................................................ 65

ketabton.com - The Digital Library

# سریزه

الحمد لله رب العالمين وصلاة والسلام على محمد وعلى آله واصحابه اجمعين اما بعد:

وَرَتِّلِ الْقُرْاٰنَ تَرْتِيْلًاۗ.[1] ژباړه: او واضح وايه قرآن په ښکاره واضح لوستلو سره.

خير كم من تعلم القرآن و علمه.[2] ژباړه: په تاسو کې د ټولو نه بهتر او افضل هغه کس دی کوم چې د قرآن علم حاصل کړي او نورو ته يې هم وښايي.

دا چې قرآن کریم تر ټولو کتابونو لوړ او سپيڅلی کتاب او قرآني علوم هم تر ټولو ښه علوم دي، پرته له شک څخه د تجويد علم له ډېرو ښو علوموڅخه ګڼل کيږي، چې موضوع يې د قرآن کریم پاک او سپيڅلي حرفونه او کلمې دي. په هر مسلمان لازم دی، چې څرنګه چې پيغمبر ﷺ صحابه وو ته قرآن تلاوت کړی او ښودلی، قرآن کريم ولولي او تلاوت يې کړي او دغه کار د تجويد د قواعدو په نه مراعاتولو سره ناشونی دی.

د تجويد په اړه پوهان پر دې يوه خوله دي، چې د قرآن کريم تلاوت هغه شان، چې په پيغمبر ﷺ نازل شوی، فرض عين دی او هر ډول کمي او کيفي زياتوالی او نيمګړتيا يې لويه ګناه بلل کيږي.

د تجويد په علم کې زيات کتابونه ليکل شوي، چې هر يو يې خپلې ځانګړتياوې لري. د دغه کتاب هم يوه مهمه ځانګړتيا دا ده، چې ټولې تجويدي قاعدې په رنګونو باندې نښه شوي، ترڅو هر زده کوونکی او لوستونکی په اسانۍ ورڅخه فهم وکړي او د دغه علم په زده کولو کې ورسره مرسته وکړي.

عمومي قاعدې په سور رنګ ښودل شوي او نورې ځانګړې تجويدي قاعدې په مختلفو رنګونو ښودل شوي.

دغه کتاب په ساده او روانه لهجه ترتيب شوی. په دغه کتاب کې د مختلفو معتبرو منابعو څخه ګټه اخيستل شوې.

د کتاب ليکلو پر وخت د هرې موضوع په اړه دقيقه څېړنه ترسره شوې، مختلفې منابع تعقيب شوي، ترڅو هره موضوع په ښه شکل سره واضح شي.

د الله ﷻ له دربار څخه غواړم، چې د تجويد دغه کتاب د مسلمانانو له پاره ګټور وګرځوي.

په درنښت

شاه ولي ځاځی

[1] [سُوْرَةُ الْمُزَّمِّلِ: 4]

[2] (رواه البخاری)

ketabton.com - The Digital Library

# لومړی فصل

## د قرآن کريم فضيلت

قرآن کريم د الله ﷻ له طرفه ټول بشريت ته رحمت، هدايت او لارښوونه ده. قرآن کريم د اسلامي شريعت قانون دی. قرآن کريم د ټول طاغوت، باطل، رزائلو او منکراتو په وړاندې د حقيقي او رښتيني آلهي لارې لارښود کتاب دی. قرآن کريم د جناب رسول الله ﷺ د رسالت ميراث دی. نن زموږ په عصر کې نه وحې شته او نه پيغمبر، بلکې د الله ﷻ او د هغه د مخلوق ترمنځ د ارتباط وسيله يوازې قرآن کريم دی. د قرآن کريم په نزول سره د وحې او رسالت سلسله ختمه شوې ده. هر چا چې د قرآن لاره تعقيب کړه هغه د الله تعالی رضا حاصله کړه او هر چا چې قرآن پرېښود هغه د طاغوت لاره اختيار کړه او ګمراه شو. څوک چې د الله ﷻ رضا، هدايت، شرعي قانون او نظام، د عذاب څخه نجات او سعادت غواړي هغوی دې په قرآن منګولې ونښلوي او څوک چې د قرآن څخه پرته بله لاره او بل قانون غواړي د هغه لپاره هدايت او سعادت نشته.

## د قرآنکريم د فضيلت څو مثالونه د قرآن په ژبه

۱ـ د الله تعالی رښتينی بر حق کلام دی: ذٰلِكَ الْكِتٰبُ لَا رَيْبَ ۛ فِيهِ ۛ هُدًى لِّلْمُتَّقِيْنَ. [سورة البقرة: ۲]

ژباړه: دا د الله کتاب دی هيڅ شک په کې نشته د پرهيزګارانو لپاره لارښوونکی دی.

۲ـ د ټولو خلکو د پاره هدايت دی: كِتَابٌ اَنْزَلْنٰهُ اِلَيْكَ لِتُخْرِجَ النَّاسَ مِنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّوْرِ. [سورة ابراهيم: ۱]

ژباړه: ای پيغمبره! دا کتاب مونږ تاته نازل کړی دی، چې پرې خلک د هغوی د رب په مرسته له تيارو نه د رڼا په لور راوباسې.

۳ـ قرآنکريم د پرهيزګارانو لپاره پند او هدايت دی: وَهُدًى وَّمَوْعِظَةً لِّلْمُتَّقِيْنَ. [سورة المائده: ۴۶]

ژباړه: او هدايت او پند دی له پاره د پرهيزګارانو. هٰذَا بَيَانٌ لِّلنَّاسِ وَهُدًى وَّمَوْعِظَةٌ لِّلْمُتَّقِيْنَ. [سورة آل عمران: ۱۳۸]

ژباړه: دا قرآن د عامو خلکو له پاره بيان او پرهيزګارانو لپاره هدايت او پند دی.

۴ـ د مؤمنانو د پاره شفاء، رحمت او زيری دی: وَنُنَزِّلُ مِنَ الْقُرْاٰنِ مَا هُوَ شِفَاءٌ وَّرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِيْنَ. [سورة اسراء: ۸۲]

ژباړه: او مونږ تاته هغه قرآن نازلوو، چې د مؤمنانو لپاره شفا او رحمت دی.

۵ـ قرآنکريم د رحمت د نزول سبب دی؛ الله ﷻ فرمايي: وَاِذَا قُرِئَ الْقُرْاٰنُ فَاسْتَمِعُوْا لَهٗ وَاَنْصِتُوْا لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ. [سورة الاعراف: ۲۰۴]

ژباړه: او چې کله قرآن ولوستل شي، نو ورته غوږ او چپ شئ، ښايې چې پر تاسې رحم وشي.

ketabton.com - The Digital Library

۶ـ قرآنکریم د زړه او روح سکون او اطمنان دی؛ الله ﷻ فرمايي: اَلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَتَطْمَئِنُّ قُلُوْبُهُمْ بِذِكْرِ اللّٰهِ ؕ اَلَا بِذِكْرِ اللّٰهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوْبُ ۝. [رعد: ۲۸]

ژباړه: هغه کسان چې ایمان يې راوړی او زړونه يې د الله ﷻ په ياد آراميږي، خبر شئ، چې د الله ﷻ په يادښت زړونه ډاډمن کيږي.

۷ـ قرآن د هدايت سېده لاره ده؛ رسول الله ﷺ فرمايي: وهو حبل الله المتين، وهو الذكر الحكيم، وهو الصراط المستقيم.[3] ژباړه: او دا قرآن د الله تعالى کلکه رسۍ ده او دا قرآن د حکيم ذات ﷻ ذکر دی او دا قرآن د هدايت سېده او مسقيمه لاره ده.

## د قرآن د زده کړې او نورو ته د ور زده کولو فضيلت

حضرت عثمان رضي الله عنه روايت کوي، چې رسول الله ﷺ فرمايلي: خيركم من تعلم القرآن و علمه.[4]

ژباړه: په تاسو کې د ټولو نه بهتر او افضل هغه کس دی کوم چې د قرآن علم حاصل کړي او نورو ته يې هم وښايي.

رسول الله ﷺ ابوذر ته وويل: يا أبا ذر! لأن تغدو فتعلَمُ آية من كتاب الله، خير لك من أن تصلي مائة ركعة. ولأن تغدو فتعلَمُ بابا من العلمُ، عمل بِهِ أَوْلَمْ يعمل، خير من أن تصلي ألف ركعة.[5]

ژباړه: ای ابوزره! که چېرې ته سهار لاړ شې او يو آيت د قرآن پاک زده کړې، نو د سل رکعته نفلو نه بهتره دی او که چېرې يو باب د علم زده کړې که دغه وخت دې عمل پرې کړی وي يا نه، نو د زرو رکعتونو نفلو کولو نه بهتره دی.

همدارنګه رسول الله ﷺ فرمايي: مَن قرأ القرآن وعمل به ألبس والداه تاجاً يوم القيامة ضوءه أحسن من ضوء الشّمس في بيوت الدنيا فمَا ظنُّكم بالّذي عمل بهذا.[6] ژباړه: چا چې قرآن ولوستو او په قرآن يې عمل وکړ، نو د قيامت په ورځ به د هغه د والدينو په سر باندې داسې تاج ور په سر شي، چې د هغې رڼا به د لمر د رڼا نه کوم چې زمونږ د دنيا په کورونو کې وي ډېره ښايسته وي؛ د دې وروسته رسول الله ﷺ وفرمايل: نو تاسې څه ګومان کوئ هغه چا په باره کې چا چې خپله دا عمل کړی وي.

---

[3] (الترمذي)

[4] (رواه البخاری)

[5] (سنن ابن ماجه: ضعيف)

[6] (رواه أبو داود والحاكم، وقال: صحيح الإسناد)

ketabton.com - The Digital Library

## د قرآنکریم د تلاوت فضائل

ابن مسعود ﷛ روايت کړی، چې رسول الله ﷺ فرمايلي: مَنْ قَرَأَ حَرْفًا مِنْ كِتَابِ اللَّهِ فَلَهُ بِهِ حَسَنَةٌ، وَالحَسَنَةُ بِعَشْرِ أَمْثَالِهَا، لَا أَقُولُ الم حَرْفٌ، وَلَكِنْ أَلِفٌ حَرْفٌ وَلَامٌ حَرْفٌ وَمِيمٌ حَرْفٌ.[7]

ژباړه: چا چې د قرآن يو حرف ولوستلو، نو هغه لره يوه نيکي ده او د يوې نيکۍ لس چنده بدله ده؛ د وضاحت لپاره فرمايي: زه دا نه وايم؛ يعنې زما مطلب دا نه دی، چې الم يو حرف دی، بلکې الف يو حرف دی لام يو حرف دی او ميم يو حرف دی.

ابی سعيد خدري ﷛ وايي، چې رسول الله ﷺ فرمايي: يقول الرب عز وجل من شغله القرآن عن ذكري وعن مسألتي أعطيته أفضل ما أعطي السائلين وفضل كلام الله على سائر الكلام كفضل الله على خلقه.[8]

ژباړه: د الله تبارك وتعالى ارشاد دی، چې کوم سړي قرآن مجيد مشغول وساتلو زما په ذکر سره او زما نه په سوال او دعا کولو سره زه به هغه ته د هغې نه غوره ورکړم کوم چې سوال کوونکو او دعا کوونکو ته يې ورکوم او د نورو خبرو په پرتله د الله تعالى کلام يا خبرې ته داسې عظمت او فضيلت حاصل دی، لکه د خپل مخلوق په مقابله کې چې الله تعالى ته فضيلت حاصل دی.

## د ماهر قرآن مقام او منزلت

عن عايشه قالت رسول الله ﷺ: الماهر بالقرآن مع السفرة الكرام البررة، والذي يقرأ القرآن ويتتعتع فيه وهو عليه شاق له أجران.[9]

ژباړه: د حضرت عايشه رضى الله عنها نه روايت دی، چې رسول الله ﷺ فرمايلي: چا چې په قرآن کې مهارت حاصل کړی وي او هغه د ياد نه يا د مخې نه په بهتره طريقې سره او بې تکليفه روان لولي هغه به د معزز وفادارو او فرمانبردارو فرښتو سره وي او کوم بنده چې قرآن پاك د ښه نه يادولو يا د نه روانېدو په وجه سره په زحمت او مشقت سره داسې وايي، چې په هغې کې نښلي، نو هغه ته به دوه اجرونه ورکول کيږي (يو دتلاوت او بل د زحمت او مشقت).

---

[7] (رواه الترمذي والدارمی و سلسلة صحيحة)

[8] (رواه الترمذی والدارمی والبيهقی فی شعب الايمان)

[9] (رواه مسلم)

ketabton.com - The Digital Library

## د قرآنکریم شفاعت

عن ابی اُمامة قال سمعت رسول الله ﷺ يقول: اقرأوا القرآن فإنه يأتي يوم القيامة شفيعاً لأصحابه، اقرَؤوا الزَّهرَاوَين: البقرةَ وسورةَ آلِ عمرانَ. فإنهما تأتِيان يومَ القيامةِ كأنهما غَمامتانِ. أو كأنهما غَيايتانِ. أو كأنهما فِرْقانِ من طيرٍ صوافَّ. تُحاجّان عن أصحابهما. اقرَؤوا سورةَ البقرةِ. فإنَّ أَخْذَهَا بركةٌ. وتركَها حسرةٌ. ولا يستطيعُها البَطَلَةُ.[10]

ژباړه: د حضرت امامه رضي الله عنه نه روايت دی، چې هغه وايي: د رسول الله ﷺ نه اورېدل، چې ويل يې: قرآن لوله قرآن د قيامت په ورځ د خپلو لوستونکو شفيع جوړيږي، راځي به حاصتاً (الزهروين)؛ يعنې دا دوه اهم سورتونه (البقره ـ آل عمران) لوله هغه به د قيامت په ورځ داسې راځي، لکه چې د وريځې ټوټه وي يا سايبان وي يا د مرغيو د سيل په شان به وي. دا دواړه سورتونه به د قيامت په ورځ د خپلو لوستونکو څخه دفاع کوي او ويې فرمايل، چې لوله سورة البقره، ځکه چې د دې حاصلول ډېر برکت لري، ترک يې پښېمانتيا ده او اهل بطالت د دې طاقت نه لري. د اهل بطالت نه مراد ساحران او ګوډګر دي؛ يعنې څوک چې سورت البقرة وايي د هغه تلاوت زيات برکت لري او د هغه په لوستونکي باندې سحر او جادو کوم اثر نه کوي.

همدارنګه رسول الله ﷺ فرمايلي: الصيام والقران يشفعان المعبد يقول الصيام ای رب انی منعته الطعام والشهوات بالنهار فشفعنی فيه ويقول القران منعته النوم بالليل فشفعنی فيه فيشفعان.[11]

ژباړه: روژه او قران دواړه د بنده شفاعت کوي، روژه به وايي: ای پروردګاره! ما دا بنده د ورځې د خوړلو، څښلو او نفسي خواهش پوره کولو نه منع کړی وو نن زما شفاعت د ده په حق کې قبول کړه او قران به وايي ما دی د شپې له خوب او آرام نه منع کړی وو الهي! نن د ده په حق کې زما شفاعت قبول کړه؛ د روژې او قران دواړو شفاعت به د دې بنده په حق کې قبول شي د دې بنده سره به د مهرباني او مغفرت معامله وشي او د ده د پاره به د جنت فيصله وشي او په خاصو رحمتونو سره به ويالل شي.

---

[10] (رواه مسلم)

[11] (رواه البيهقي، احمد و حاکم)

ketabton.com - The Digital Library

### درې ډلې به بې حسابه جنت ته داخليږي

رجلٌ قرأَ القُرآنَ ابْتغاءَ وجْهِ اللهِ وأمَّ به قومًا وهُمْ به راضُونَ، وداعٍ يَدعُو إلى الصلواتِ ابْتغاءَ وجهِ اللهِ، ورجلٌ أحْسنَ فِيما بينهُ وبينَ ربِّهِ، وفِيما بينهُ وبينَ مواليهِ.[12]

ژباړه: يو هغه سړی، چې د الله تعالی لپاره يې قرآن ولوستلو او داسې امامت يې وکړ، چې مقتديان ترې راضي وو؛ دوهم هغه سړی، چې صرف د الله تعالی د رضا لپاره خلك لمونځونو ته بولي؛ دريم هغه سړی، چې د خپل رب ﷻ سره هم ښه معامله ساتي او د خپلو ماتحتو (تر لاس لاندې خلك) سره هم.

### د قرآنکريم تلاوت کوونکي په غافلينو کې نه شمېرل کيږي

ابی هريره رضي الله عنه وايي، چې رسول الله ﷺ فرمايلي: من قرء عشر ايات في ليلة لم يکتب من الغافلين.[13]

ژباړه: څوك چې لس آيتونه د شپې تلاوت کړي هغه به د غافلينو نه، نه شمارل کيږي. بلکې د قرآنکريم خاص حق دی؛ په حديث شريف کې راغلي دي چې: يا أهل القرآن لا تتوسدوا القرآن واتلوه حق تلاوته من آناء الليل والنهار، وأفشوه وتغنوه وتدبروا ما فيه لعلکم تفلحون، ولا تعجلوا ثوابه فإن له ثوابا.[14]

ژباړه: ای قرآن والاوو! قرآن خپله تکيه او سهارا مه جوړوئ، بلکې د ورځې او د شپې په وختونو کې د دې تلاوت کوئ، لکه څنګه چې د ده حق دی او دا خوروئ او دا په د لچسپۍ سره او په مزه، مزه سره لولئ او په دې کې تدبر کوئ او هيله ساتئ، چې په دې سره به تاسې کاميابي مومی او د دې د عاجلې معاوضې اخستلو فکر مه کوئ د الله تعالی د طرف نه د دې عظيم الشان ثواب او معاوضه په خپل وخت باندې ورکوونکې ده.

### د قرآنکريم په تلاوت کوونکو د سکنې نزول

رسول الله ﷺ فرمايلي: مَا اجْتَمَعَ قَوْمٌ فِي بَيْتٍ مِنْ بُيُوتِ اللَّهِ يَتْلُونَ كِتَابَ اللَّهِ وَيَتَدَارَسُونَهُ بَيْنَهُمْ إِلَّا نَزَلَتْ عَلَيْهِمُ السَّكِينَةُ وَغَشِيَتْهُمُ الرَّحْمَةُ وَحَفَّتْهُمُ الْمَلَائِكَةُ وَذَكَرَهُمُ اللَّهُ فِيمَنْ عِنْدَهُ.[15]

ژباړه: هيڅ ډله په يوه کور کې د الله تعالی له کورونو څخه د قران د تلاوت او مطالعې د پاره نه جمع کيږي، مګر دا چې په هغوی باندې سکون نازليږي او له هغوی نه رحمت احاطه کيږي او فرښتې هغوی احاطه کوي او الله ﷻ هغوی د هغه چا په مجلس کې يادوي، چې له ده سره دي.

---

[12] (رواه الطبرانی و الترغيب و الترهيب للمنذري)

[13] (رواه حاکم، حديث صحيح)

[14] (رواه البيهقي و مشکاة المصابيح)

[15] المسلم

ketabton.com - The Digital Library

## د قرآنکريم د تلاوت اداب

۱ـ له بې اودسی او جنابت څخه د بدن پاکوالی.

۲ـ مستحب ده، چې د تلاوت په وخت کې سړی د قبلې په لوري ناست وي.

۳ـ د تلاوت په شروع کې د (**اعوذ بالله من الشيطان الرجيم**) ويل واجب دي لقوله تعالى: **فَإِذَا قَرَأْتَ الْقُرْاٰنَ فَاسْتَعِذْ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ**۝. [سورة النحل: ۹۸]

ژباړه: او کله چې د قرآن په ويلو پيل وکړې، نو د الله په نوم له رټل شوي شيطان نه پناه وغواړه.

۴ـ د توبې سورت څخه پرته نور ټولو سورتونو په پيل کې (**بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ**) ويل کول په خاصه توګه د فاتحې سورت په شروع کې.

۵ـ قرآن په ترتيل سره لوستل: **وَرَتِّلِ الْقُرْاٰنَ تَرْتِيْلًا**۝.[16] د ترتيل په باره کې شا عبدالعزيز رحمه الله په خپل تفسير کې ليکلي دي، چې ترتيل په لغت کې صفا او واضح لوستلو ته وايي او په شريعت کې د څو څيزونو لحاظ ساتلو سره تلاوت کولو ته وايي، چې هغه څيزونه په لاندې ډول دي:

الف ـ د حروفو صحيح اداء کول؛ يعنې د خپل مخرج څخه چې د (ض) پر ځای (د) يا (ظ) تلفظ نه شي.

ب ـ د وقف پر ځای په ښه شان سره دريدل، چې وصل او قطع؛ يعنې يو ځای کول او جلا کول د کلام بې ځايه نه شي.

ج ـ حرکتونه سره ګډوډ نه شي زور، زير او پېښ په ښه شان ښکاره اداء شي.

دـ آواز لږ اوچتول، چې د قرآن الفاظ له ژبې ووځي او غوږونه يې واوري.

ه ـ قرآن په ښه آواز دردوونکې غږ تلاوت کول، چې په زړه اثر وکړي دردناک آواز په زړه ژر اثر کوي.

وـ شد او مد ښه ښکاره کول، چې د دې په ښکاره کولو سره د قرآن لوی شان ښکاره کيږي او له اثر سره مدد کوي.

دـ د رحمت او عذاب د آيتونو حق اداء کول.

۶ـ د تلاوت پر مهال حاضرينو ته واجب دی، چې چوپ وي (خبرې به نه کوي) او قرآن ته به غوږ وي؛ لقوله تعالى: **وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْاٰنُ فَاسْتَمِعُوْا لَهٗ وَأَنْصِتُوْا لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ**۝.[17] ژباړه: او چې کله قرآن ولوستل شي، نو ورته غوږ او چپ شئ؛ ښايې چې پر تاسې رحم وشي.

۷ـ قاري او اوريدونکې ته په کار ده، چې په خشوع او ادب سره خپل زړه او حواس د قرآن تلاوت ته متوجه کړي، چې دا د سکوت له غوښتنې څخه ده، لکه په مخکې آيت کې، مګر د قرائت پر مهال فرياد، چيغې او شور

---

[16] [سُوْرَةُ الْمُزَّمِّلِ: 4]

[17] [سورة اعراف: ۲۰۴]

ketabton.com - The Digital Library

ماشور جوړل د کافرانو او مشرکانو صفت دی، ځکه کله به چې قرآن لوستل کیده، نو مشرکانو به یو له بله سره خبرې چیغې او شور ماشور جوړولو، چې قرآنکریم ورته داسې اشاره کړې ده: وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَا تَسْمَعُوْا لِهٰذَا الْقُرْاٰنِ وَالْغَوْا فِيْهِ.[18] ژباړه: او کافرانو ویل دغه قرآن ته غوږ مه نیسی او هغه مهال بیهوده خبرې کوئ.

۸ـ قاري باید تر خپله وسه قرآنکریم په ښه صوت سره تلاوت کړي، ځکه رسول الله ﷺ فرمایي: لیس منا من لم یتغن بالقرآن.[19] ژباړه: هغه له مونږ څخه نه دی، چې قرآن په ښه آواز نه لولي.

په پورته حدیث شریف کې (یتغن بالقرآن) څخه مطلب دا دی، چې د قرآنکریم لوستونکی به قرآن په ښه صورت او حد اقل دومره جهر او زوره سره وایي، چې خپله یې واوري، قرآن به په تجوید او خشوع سره وایي او په هغه کې به تدبر کوي، تر څو په زړه باندې اثر وکړي او علم حدیث شارحین وایي، چې د (لیس منا) څخه مطلب دا نه دی، چې څوک په ښه صوت او تدبر او خشوع سره قرآن نه وايي، نو هغه د امت اهل دین څخه نه دی، بلکې د هغه مطلب دا دی، چې زمونږ په سنتو برابر نه دی؛ یعنې داسې کول د سنتو خلاف دی، څوک چې قرآن په تجوید، تدبر او ښه صوت سره نه وايي، نو داسې کول گناه ده.

۹ـ قاري باید خپل صوت د سندرو ویونکو، فاسقانو یا یهودو او نصاراوو د دیني آوازونو سره تشبه نه کړي او د ښه صوت په کوښښ کې د بې ځایه تکلیف نه ځان وساتي.

۱۰ـ قاري او اوریدونکی به د قرآن په آیتونو کې تدبر او فکر کوي او د هغه د معنی او مقاصدو په پیداکولو کې به فکر کوي. اَفَلَا يَتَدَبَّرُوْنَ الْقُرْاٰنَ.[20] ژباړه: آیا په قرآن کې تدبر او فکر نه کوي.

۱۱ـ د قرائت په وخت کې په خشوع کې مبالغه کول او قصداً د ژړا کولو کوښښ مستحب دی، تر څو د الله ﷻ عظمت او لویي په یاد راوړل شي، چې قرآن د هغه کلام دی.

۱۲ـ د قرآنکریم د اوامرو اطاعت کول او د هغه له مخالفت څخه ځان ساتل، ځکه قرآن به د قیامت پر ورځ هغه چا ته حجت، نور او شفاعت وي، چې عمل یې ورباندې کړی وي، مګر هغه څوک چې قرآن تلاوت کوي، خو په قرآن عمل نه کوي او اوامرو څخه یې سرغړونه کوي، نو قرآن به د قیامت په ورځ پر داسې کس لعنت وایي.

۱۳ـ یو مسلمان ته په کار ده، چې حد اقل په څلویښتو ورځو کې یو ځل قرآن ختم کړي او سنت ده، چې هره ورځ یو جزء تلاوت کړي یا حد اقل د ورځې لس آیته تلاوت کړي، ترڅو د غافلان په ډله کې حساب نه شي.

۱۴ـ مستحب ده، چې قاري د قرآن په ختم کې دعا وکړي نور هم حاضر کړي، چې په دعا کې ګډون وکړي، ځکه چې دا د دعا د استجابت او د الله ﷻ د رحمت د نزول وخت دی.

---

[18] [سورة فصلت: ۲۶]

[19] (البخاري)

[20] [النساء: ۸۲]

ketabton.com - The Digital Library

۱۵ـ باید د قرآن تلاوت د خاص د الله ﷻ د رضا لپاره وي، ځکه چې د قرآن تلاوت له لویو عباداتو څخه دی، نو عبادت د غیرالله له پاره نه وي.

۱۶ـ د قرآنکریم په تلاوت باندې اجرت اخیستل حرام دي، مګر په تعلیم باندې اجرت د متأخرینو په نزد جایز دی.

۱۷ـ د تلاوت د سجدې په اوریدو سره د تلاوت سجده کول.

۱۸ـ مسواك وهل.

۱۹ـ په پوره ادب سره کېناستل.

۲۰ـ په ښکلي او برابر اواز سره لوستل. یو ټکي ته باید پاملرنه وشي، چې ښکلی او ښایسته اواز له تکلف او لحن سره ملګرتیا ونه لري، چې په دې صورت کې ناوړه دی.

۲۱ـ په ارامه او عزت سره لوستل.

۲۲ـ په منځني ډول لوستل؛ یعنې نه ډېر لوړ او نه ورو.

ketabton.com - The Digital Library

# دوهم فصل

# د تجوید علم

### د تجوید تعریف

تجوید په لغت کې تحسین (ښه او ښایسته کولو) ته وایي په اصطلاح کې عبارت دی له اداء کولو د هر توري (حرف) په خپل مخرج (ځای د اداء) کې د ادابو او صفاتو له مراعاتولو سره.

### د تجوید د علم موضوع

د دې علم موضوع قرآني الفاظ دي، چې عبارت د حروفو هجاء څخه دي؛ هغه د الف څخه تر حرف یا پورې دي، چې ټول نهه ویشت (۲۹) حروف کیږي.

### د تجوید علم غرض

د دې علم غرض دا دی، چې داسې تلاوت کول، لکه څنګه چې رانازل شوی دی؛ یعنې د قرآن په تلاوت کې ژبه د غلطۍ څخه ساتل.

### د تجوید علم فایده او ثمره

د تجوید علم فایده او ثمره رضا الهي یا سعادة الدارین ده؛ یعنې که تجوید علم څوک زده کړي هغه به په دنیا او آخرت کې کامیابه وي. حضرت عثمان ﷛ روایت کوي، چې رسول الله ﷺ فرمایلي: خیرکم من تعلم القرآن و علمه. (رواه البخاری)

ژباړه: په تاسو کې د ټولو نه بهتر او افضل هغه کس دی کوم چې د قرآن علم حاصل کړي او نورو ته یې هم وښايي.

### د تجوید د علم حکم

د تجوید د علم حکم په دوه قسمه دی: یو فرض عین دی او بل فرض کفایي ده؛ یعنې عمل وربانديې کول فرض عین دی او ویل یې او د دغو قاعدو زده کول فرض کفایي دی. د اته څلویښت (۴۸) میله په اندازه د تجوید علم د یوه ماهر وجود ضروري دی که چیرې نه وي، نو ټول ګناهګاره دي او د دغه علم د قواعدو مطابق قرآن ویل په هر عاقل او بالغ باندې فرض عین دی؛ یعنې تر داسې اندازې، چې په حروفو او معانیو کې تبدیلي رانه شي او د دې څخه زیات مستحب دی.

ketabton.com - The Digital Library

## د تجوید د علم فضیلت

تجوید افضل العلوم دی، ځکه د تجوید علم تعلق د کلام الله سره دی کوم چې افضل الکلام دی او د کوم علم تعلق چې د افضل الکتاب سره وي هغه علم افضل العلوم دی.

## د تجوید د علم ارکان

د تجوید علم ارکان په څلورو برخو ویشل شوي، چې عبارت دي له:

۱ـ د حروفو مخرجونه (مخارج الحروف).

۲ـ د حروفو صفتونه (صفات الحروف).

۳ـ ترکیبي قاعدې یا اجرا، مثلاً: ادغام، اخفاء غُنه، مد او داسې نور.

۴ـ ریاضة اللسان؛ یعنې تکلیف پر ژبه راوستل تر څو کوم حروف چې نه شي اداء کولای، وکولای شي چې اداء یې کړي.

## د تجوید علم اهمیت

د قرآن کریم لوستل په داسې ډول، چې له غلطیو مخنیوی وشي؛ یعنې د تجوید د احکامو مراعاتول، که د تجوید احکام مراعات نه شي، نو لحن (غلطي) منځته راځي.

## لحن (غلطي) او ډولونه یې

لحن په دوه ډوله دی: جلي لحن او خفي لحن.

**لومړی ـ جلي لحن (ښکاره غلطي)**: داسې ښکاره غلطي ده، چې د کلمې په معنی کې بدلون رامنځ ته شي، لکه په لاندې حالاتو کې:

۱ـ د یوه حرف بدلیدل پر بل حرف باندې، مثلاً: د (ث) حرف په (س) سره تلفظ یا د (ذ) حرف په (ز) سره تلفظ کول، لکه: د (اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ) پر ځای (اَلْهَمْدُ) ووایي، داسې چې حرف له خپل مخرج څخه اداء نه شي دا یوه ښکاره غلطي ده.

۲ـ د کلمې د حروفو یو حرف کمول، لکه: (هُمُ الْخٰاسِرُوْنَ) داسې لوستل (هُمُ الْخٰاسِرُنَ) د (و) حرف څرګند نه کړي.

۳ـ په حرکاتو کې بدلون (زور، زیر، پېښ)، مثلاً: د (یُوصَلَ) په کلمه کې (یُوصَلُ) د لام حرف د زور پر ځای پېښ تلفظ شي.

ketabton.com - The Digital Library

۴ـ يوه كلمه داسې تلفظ شي، چې د هغه د حروفو په تعداد كې زياتوالى راشي، د مثال په ډول په (اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ) د (دال) حرف د پېښ او د (ها) حرف زير داسې اوچت تلفظ شي، چې د (و) يا (ي) آواز ترې پيدا شي، لكه: اَلْحَمْدُوْ لِلّٰهِيْ.

د جلي لحن مرتكب كېدل حرام دي او په ځينو ځايونو كې د هغه له كبله معنى بدلېږي او لمونځ فاسدېږي.

## دوهم ـ لحن خفي (پټه غلطي) او ډولونه يې:

۱ـ هغه دى، چې علماء قرأت معلومولى شي، لكه: اخفاء، ادغام، اظهار، اقلاب او غُنه؛ يعنې اخفاء په خپل ځاى كې، ادغام په خپل ځاى كې، اقلاب او اظهار په خپل ځاى كې اداء كول، كه په خپل ځاى كې اداء نه شي، نو لحن خفي منځته راځي.

۲ـ هغه غلطي، چې صرف ماهره قاريان يې معلومولى شي، لكه: د راګانو تكرارول، د نون په اداء كولو كې اواز د حد نه زيات په پوزه كې ويل، مد زيات كش كول، په غُنوكې اواز زيات پوزې كې ويل.

**د خفي لحن حكم:** په خفي لحن كې واقع كېدل مكروه عمل دى.

## د قرائت د شروع مسايل

استغاذه او بسمله (اعوذ بالله او بسم الله)

### لومړى استغاذه

**تعريف:** استغاذه د شيطان له شر او وسواسو څخه پر الله تعالى پنا غوښتلو ته وايي، چې متن يې داسې دى: **اعوذ بألله من الشيطأن الرجيم**. او يا: **اعوذ بألله السميع العليم من الشيطأن الرجيم**.

### د استغاذه احكام

۱ـ د قرائت د شروع په وخت كې استغاذه ويل واجب دي، لقوله سبحانه وتعالى: فَإِذَا قَرَأْتَ الْقُرْاٰنَ فَاسْتَعِذْ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ○. [سورة النحل: ۹۸]

ژباړه: او كله چې د قرآن په ويلو پيل وكړې، نو د الله په نوم له رټل شوي شيطان نه پناه وغواړه.

۲ـ د لمانځه په منځ كې مطلقاً خفيه (په پټه) ويل كيږي كه هغه جهري يا خفيه، فرض او يا نفل لمونځ وي.

۳ـ د لمانځه څخه بهر په خفيه قرائت كې خفيه لوستل كيږي.

۴ـ په جهري قرائت كې كه چېرې قاري تنها وو اختيار لري كه خفيه يې وايي او يا په جهري توګه، مګر كه قرائت په مجلس كې كېده په جهر به لوستل كيږي.

۵ـ كه چېرې قرائت قصداً قطع شي، لكه: خبرې كول، خوراك كول او نور، نو په دې صورت كې د استغاذه اعاده او لوستل ضرور دي.

ketabton.com - The Digital Library

۶ـ که چېرې قرائت د ضرورت پر بنا قطع شي، لکه: ټوخی، پرنجی او نور، نو په دې صورت کې د استغاذه اعاده کول لازم نه دي.

۷ـ د درس په پیل کې استغاذه په جهر لوستل.

## دوهم بسمله

**تعریف**: بسمله په لغت کې په ژبه سره د الله تعالی نوم اخیستل او په اصطلاح کې (بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ) ویلو ته وایي.

## د بسمله احکام

۱ـ د سورتونو په پیل کې د بسم الله ویل سنت دی، پرته له سورت توبه څخه.

۲ـ که چېرې قرائت د سورت له کومې برخې پیل شي هغه که سورت توبه یا نور سورتونه وي د بسم الله ویل مستحب دي.

## د استغاذه او بسمله د فصل (قطع) او وصل (پیوسته) صورتونه

کله چې د اعوذ بالله او بسم الله په ویلو کوم سورت پیل کېږي پرته له سورت توبه څخه او د سورت له کومې حصې څخه پیل کېږي، نو د استغاذه، بسمله او سورت د قطع او وصل څلور جایز صورتونه دي:

۱ـ فصل یا قطع کول: په دې معنی چې د اعوذ بالله او بسم الله ویلو په آخر کې پر دواړو وقف وشي او بیا سورت پیل شي.

۲ـ وصل کل: په دې معنی چې اعوذ بالله له بسم الله او بسم الله ویل له سورت سره وصل شي.

۳ـ فصل اول وصل ثاني: په دې معنی چې د اعوذ بالله ویلو په آخر کې وقف وشي او بسم الله د سورت له برخې سره وصل شي.

۴ـ وصل اول فصل ثاني: په دې معنی چې اعوذ بالله د بسم الله سره وصل شي او د بسم الله په آخر کې وقف وشي او بیا سورت پیل شي.

## د بسم الله او سورت ترمنځ د فصل او وصل صورتونه:

۱ـ فصل یا قطع کول: په دې معنی چې د مخکې سورت په آخر باندې وقف وشي او بیا په بسم الله وقف او بیا بل سورت پیل شي.

۲ـ وصل کل: په دې معنی چې آخر د سورت له بسم الله او بسم الله له وروسته سورت سره وصل شي.

۳ـ فصل اول وصل ثاني: په دې معنی چې په آخر د سورت وقف وشي او بسم الله د راتلونکي سورت سره وصل شي.

ketabton.com - The Digital Library

۴ـ وصل اول فصل ثاني: په دې معنی چې آخر د سورت له بسم الله سره وصل شي او بسم الله په آخر باندې وقف وشي.

## حرکات

په عربي ژبه کې درې قسمه حرکات دي، لکه: فتحه (زَبر ـَ)، کسره (زیر ـِ)، ضمه (پېښ ـُ).

## سکون

سکون عبارت د یوې کوچنۍ دایرې څخه دی، د توري د پاسه لیکل شوې وي، چې د عدم حرکت (حرکت نه لرلو) معنی لري، لکه: **حَسَنْ** یا **حَسَنۡ**؛ دغه دواړه د سکون علامې دي.

### تنوین

تنوین عبارت دی له دوه زورونو، دوه زیرونو او دوه پېښونو څخه (ـً، ـٍ، ـٌ)، چې د حرف د پاسه یا لاندې لیکل شوي وي او تنوین په اصل کې زیات شوی ساکن نون دی، چې علماوو د دغه نون زائده پر ځای تنوین ټاکلی دی ترڅو د اصلي نون سره یې فرق وشي او تنوین یوازې په اسم کې راځي، لکه: **جدیداً**، **محمدٌ**.

### شد

الشدة په لغت کې سختۍ او شدت ته وایي او په اصطلاح کې کله چې دوه توري یو په بل کې مدغم یا داخل شي مشدد (شد لرونکی) لوستل کېږي؛ یعنې شد د حروفو د تکرار نښه ده، لکه: **مدّ**=**مَدَدَ**=**مدّ**.

ketabton.com - The Digital Library

# دریم فصل

## د حروفو مخرجونه (مخارج)

مخارج د مخرج جمع ده او مخرج د وتلو ځای ته وایي د تجوید د علم په اصطلاح کې مخرج هغه ځای دی کوم چې توری یا حرف ورڅخه اداء کیږي. مخرجونه عموماً په دوه ډوله دي:

### ۱ـ اجمالي مخرجونه

### ۲ـ تفصیلي مخرجونه

اجمالي مخرجونه پنځه دي: ۱ـ الحلق (ستونی) ۲ـ اللسان (ژبه) ۳ـ الشفتان (شونډې) ۴ـ الخیشوم (د پزې آخري برخه) ۵ـ الجوف (د خولې خالیګاه).

تفصیلي مخرجونه: د تفصیلي مخرجونو په شمېر کې د علماء کرامو ترمنځ اختلاف دی:

لومړی قول: د جمهورو قرآء کرامو په نزد د تفصیلي مخرجونو شمېر (۱۷) دی.

دوهم قول: د سیبیویه او الشاطبي په نزد د تفصیلي مخرجونو شمېر (۱۶) دی، ځکه چې د هغوی په نزد (جوف) مخرج نه دی.


دریم قول: د فراء په نزد د تفصیلي مخرجونو شمېر (۱۴) دی، ځکه د هغه په نزد (جوف) مخرج نه دی او همدارنګه د (لام، را، نون) مخرج یو بولي.

راجح او جمهور قول دا دی، چې د حروفو د مخرجونو شمېر (۱۷) دی، چې ان شاء الله په تفصیل سره به بیان شي.
مخکې له دې چې د حروفو مخرجونه وپیژنو لومړی باید د یوه حرف د مخرج د اداء کولو طریقه زده کړو هغه داسې ده کله چې د یوه حرف مخرج معلوموو لومړی همغه حرف ساکنوو (زور، زیر او پېښ یې لرې کوو) او یوه زور لرونکې همزه ورباندې داخلوو هر چېرې چې آواز ختم شي همغه د حرف مخرج دی، مثلاً: که زور لرونکې همزه (أَ) پرساکنه ب (بْ) داخله کړو، نو (أَبْ) ترې جوړیږي او کله یې چې تلفظ کړو، نو معلومیږي، چې د (ب) مخرج د دواړو شونډو ترمنځ دی، کله چې سره ولګیږي. مخکې له دې چې د حروفو مخرجونه بیان کړو لومړی باید د ژبې برخې او د غاښونو نومونه او تفصیل بیان کړو، ځکه څو پورې چې د ژبې برخې او غاښونه ونه پیژندل شي تر هغه پورې د مخارجو پیژندل ګران دي.

ketabton.com - The Digital Library

### أقسام اللسان (د ژبې برخې او اقسام)

۱ـ أقصى اللسان (د ژبې آخري برخه) **۲ـ** وسط اللسان (د ژبې منځنۍ برخه) **۳ـ** حافة اللسان (د ژبې اړخ) **۴ـ** طرف اللسان (د ژبې بیروني برخه) **۵ـ** رأس اللسان (ژبې سر یا څوکه).




### الأسنان (غاښونه)

د بالغ انسان د غاښونو شمېر زیاتره (۳۲) وي، چې (۱۶) یې په پاسنۍ او (۱۶) په لاندینۍ ژامه کې موقعیت لري.

### د غاښونو ډولونه

غاښونه عموماً پر څلورو برخو ویشل شوي دي: ثنایا، رباعیات، انیاب او اضراس.

**۱ـ ثنایا غاښونه**: مخامخ څلور غاښونه دي، چې پورته یې ثنایا علیا او ښکته ته یې ثنایا سفلی بلل کیږي او ټول څلور کیږي، چې دوه یې پورته او دوه یې ښکته موقعیت لري.

**۲ـ رباعي یا رباعیات غاښونه**: د ثنایا غاښونو تر څنګ چې یو ښي اړخ ته او بل هم چپ اړخ ته واقع وي دوه په پاسنۍ ژامه او دوه په لاندینۍ ژامه کې موقعیت لري، چې ټول څلور کیږي.


**۳ـ انیاب غاښونه**: د رباعي غاښونو ښي او چپ اړخ ته دوه پورته او دوه ښکته غاښونه دي، چې ټول څلور کیږي. ناب په عربي کې نیش یا میخ شکله ته وایي؛ یعنې ډېر تېز یا تیره غاښونه دي.

**۴ـ اضراس غاښونه**: اضراس شل غاښونه دي، چې لس یې په پورته ژامه کې او لس یې په ښکته ژامه کې موقعیت لري، چې پر دریو برخو ویشل شوي دي:

**الف ـ ضواحك**: ضواحك څلور غاښونه دي، چې د انیابو په څنګ کې موقعیت لري دوه یې پورته او دوه یې ښکته دي.

**ب ـ طواحن**: طواحن د ضواحکو په څنګ کې دولس (۱۲) غاښونه دي، چې شپږ یې پورته او شپږ یې ښکته موقعیت لري، چې دا غاښونه د ژرندې د غاښونو په نامه هم یادیږي.

ketabton.com - The Digital Library




**ج ـ نواجذ**: نواجذ څلور آخري غاښونه دي، چې د طواحنو په څنګ کې موقعيت لري دوه يې پورته او دوه يې ښکته دي.

## د حروفو مخارج دوهمه برخه

په تېر درس کې د ژبې د حصو او غاښونو بيان وشو، چې د مخارجو د پيژندو لپاره مهم دي اوس د حروفو مخارج په تفصيلي ډول بيانيږي:

### لومړی – الحلق (ستونی)

په حلق کې درې مخرجونه دي: اول د حلق، وسط يا مابين د حلق او آخر د حلق.

له ستوني يا حلق څخه شپږ حروف په لاندې ډول اداء کيږي:

د حلق له شروع يا اولې برخې څخه؛ يعنې د خولې له طرفه (غ) او (خ) اداء کيږي، لکه: (اَغْ)، (اَخْ). د حلق له منځنۍ برخې څخه (ع) او (ح) اداء کيږي، لکه: (اَعْ)، (اَحْ). د حلق له آخرې برخې څخه؛ يعنې د سينې له طرفه (همزه) او (ها) اداء کيږي، لکه: (اَءْ)، (اَهْ).

### دوهم ـ اللسان (ژبه)

په ژبه کې لس مخرجونه دي، چې (۱۸) حروف ورڅخه اداء کيږي.

۱ـ د (ق) مخرج: کله چې د ژبې پای يا آخره برخه له نرم تالو سره ولګيږي د (ق) توری اداء کيږي.

۲ـ د (ك) مخرج: کله چې د ژبې پای د تالو د سختې حصې سره ولګيږي، ك اداء کيږي.

۳ـ د (ض) مخرج: کله چې د ژبې يو اړخ له ښي يا چپ طرف پاس اضراس غاښونو له داخلي ديوال يا څنګ سره ولګول شي د (ض) توری تلفظ کيږي، البته له چپې خوا څخه يې اداء کول آسانه دي، مګر له ښۍ خوا څخه يې اداء کول زيات دی، خو پام بايد وشي، چې (ض) د (ظ) او (ذ) په څير اداء نه شي.

۴ـ د (ل ) مخرج: کله چې د ژبې بيروني برخه يا (طرف اللسان) د پاس ثنايا غاښونو له تالو سره ولګول شي د (ل) توری اداءکيږي.

۵ـ د (ن) مخرج: کله چې د لام د مخرج نه لږ ښکته د ژبې بيرونی برخه (چې په عربي کې ورته طرف لسان او په فارسي کې ورته نوك زبان وايي) د پاس تالو سره د ثنايا، رباعياتو غاښونو مخامخ ولګول شي د (ن) توری اداءکيږي.

۶ـ د (ر) مخرج: کله چې د ژبې نوك يا طرف لسان او د هغه د شاه څه برخه د پاس غاښونو (ثنايا، رباعياتو) د تالو سره ولګول شي د (ر) توری اداء کيږي.

ketabton.com - The Digital Library

۷ـ د (د، ت، ط) مخرج: کله چې د ژبې نوک د پورته ثنایاوو له بېخ سره ولګيږي د (د، ت او ط) توري اداء کيږي، خو دومره توپير شته، چې د (ط) حرف د استعلاء د صفت د لرلو له کبله ډک اداء کيږي او د (دال) او (تا) حروف تش يا باريک اداء کيږي.

۸ـ د (ذ، ث، ظ) مخرج: کله چې د ژبې نوک د پورته ثنایاوو له څوکې (سر) سره ولګيږي د (ذ، ث، ظ) حروف اداء کيږي، خو دومره توپير شته چې د (ظ) حرف د استعلاء د صفت د لرلو له کبله ډک اداء کيږي او د (ذال) او (ثا) حروف تش يا باريک اداء کيږي.

۹ـ د (س، ز، ص) مخرج: کله چې د ژبې څوکه د لاندنيو ثنایاوو د داخل طرف سره ولګول شي، نو د (ز، س، ص) توري اداء کيږي، خو دومره توپير شته، چې د (ص) حرف د استعلاء د صفت د لرلو له کبله ډک اداء کيږي او د (ز) او (س) حروف تش يا باريک اداء کيږي.

۱۰ـ د (ج، ش، ي) مخرج: کله چې د ژبې منځنۍ برخه د پاس تالو سره ولګيږي، نو د (ج، ش، ي) توري تلفظ کيږي او دلته د (ي) د حرف څخه غير مدي (ي) مطلب ده.

**دريم ـ شونډې**

په شونډوکې دوه مخرجونه دي: د (ف) مخرج او د (ب، م، و) مخرج چې څلور توري په لاندې ډول ورڅخه اداء کيږي:


۱ـ کله چې پاسنۍ او لاندينۍ شونډې سره ولګيږي د (ب) او (م) توري اداء کيږي، خو دومره توپير شته، چې (ب) د شونډو له لانده (داخل) طرف څخه او (م) د شونډو له وچ (بيرون) طرف څخه اداء کيږي او د (م) په اداء کولو د خيشوم مخرج هم برخه اخلي او کله چې دواړه شونډې د ګل د غوټۍ په څېر راغونډې شي او سره ونه لګول شي بې مده (و) اداء کيږي.

۲ـ کله چې د لاندينۍ شونډې ګېډه د پورته ثنایا غاښونو له څوکو سره ولګول شي د (ف) توری اداء کيږي.

**څلورم ـ خيشوم (د پوزې بېخ يا د پوزې آخره برخه)**

له خيشوم څخه غُنه اداء کيږي (غُنه هغه آواز ته وايي، چې د غرڅې له آواز سره مشابه وي؛ يعنې کله چې غرڅه خپل بچي ته آواز کوي، نو آواز يې له غُنې سره مشابه وي). کله چې نون او ميم مشدد واقع شي او يا غُنه لرونکی ادغام منځته راشي غُنه اداء کيږي.

ketabton.com - The Digital Library




**پنځم ـ جوف (د خولې داخلي خالیگاه)**

له دغه ځای څخه دري مد لرونکي توري اداء کیږي: ۱ـ (و) کله چې ساکن وي او له هغه څخه مخکې حرف پېښ ولري، لکه: (الْمَغْضُوبِ). ۲ـ (ی) کله چې ساکنه وي او مخکې حرف یې زیر ولري، لکه: جَمِيعًا.
۳ـ (الف) کله چې ساکن وي او له هغې مخکې حرف زور ولري، لکه: (قَالَ)، چې ښه مثال یې (نُوْحِيْهَا) دی.

**د مخارجو د لنډیز جدول**

| مسلسل نمبر | الحروف (توري) | خاص مخرج | د مخارجو شمېر | عام مخرج | شمېره |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ء، ها | اقص الحلق (د ستوني آخري برخه) | ۱ | الحلق (ستونی) | ۱ |
| ۲ | ع، ح | وسط حلق (د ستوني منځنۍ برخه) | ۲ | | |
| ۳ | غ، خ | أدنی الحلق (د ستوني لومړۍ برخه) | ۳ | | |
| ۴ | ق | اقصی اللسان (کله چې د ژبې پای د نرم تالو سره ولګول شي) | ۱ | اللسان (ژبه) | ۲ |
| ۵ | ك | د(ق) د مخرج سره نږدې لږ د خولې بیرون طرف ته | ۲ | | |
| ۶ | ج، ش، ی | وسط اللسان (کله چې د ژبې منځنۍ حصه د مقابل تالو سره ولګول شي) | ۳ | | |
| ۷ | ض | حافة اللسان (کله چې د ژبې یو اړخ له ښي یا چپ طرف پاس اضراس غاښونو د داخلي دیوال سره ولګول شي) | ۴ | | |
| ۸ | ل | طرف اللسان (کله چې د ژبې څوکه د پاس ثنایا غاښونو د تالو سره ولګول شي) | ۵ | | |
| ۹ | ن | طرف اللسان (کله چې د ژبې څوکه د پاس ثنایا، رباعیاتو د تالو سره ولګول شي) | ۶ | | |

ketabton.com - The Digital Library

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۰ | ر | طرف اللسان (کله چې د ژبې څوکه د پاس تالو سره د رباعیاتو او ثنایاوو غاښونو منځ کې ولګول شي) | ۷ | | |
| ۱۱ | د، ت، ط | طرف اللسان (کله چې د ژبې نوک د پورته ثنایاوو له بیخ سره ولګول شي) | ۸ | | |
| ۱۲ | ث، ذ، ظ | طرف اللسان (کله چې د ژبې نوک د پورته ثنایاوو له څوکې (سر) سره ولګیږي) | ۹ | | |
| ۱۳ | س، ص، ز | رأس اللسان (کله چې د ژبې څوکه د لاندنیو ثنایاوو د داخلي طرف سره ولګیږي) | ۱۰ | | |
| ۱۴ | ب، م، و | مابین الشفتین (کله چې پاسنی او لاندینی شونډې سره ولګیږي) | ۱ | الشفتان | ۳ |
| ۱۵ | ف | کله چې لاندې شونډه د پاس غاښونو سره ولګول شي | ۲ | | |
| ۱۶ | ا، و، ی | الجوف (د خولې خالیګاه څخه راوځي) | ۱ | جوف | ۴ |
| ۱۷ | غُنه | الخیشوم (د پوزې له بیخ څخه راوځي) | ۱ | الانف (پوزه) | ۵ |

ketabton.com - The Digital Library

# څلورم فصل

## د وقف پیژندنه

وقف په لغت کې ودرېدو او ځنډ کولو ته وايي او د تجويد په اصطلاح کې د کلمې په آخر باندې د ساه او آواز بندول او وروسته قرائت ته ادامه ورکول د وقف په نامه يادېږي.

### د وقف کيفيت (څرنګوالی)

کيفيت د وقف څرنګوالي ته وايي، معنی دا چې څه ډول به وقف کېږي په کوم حرف چې وقف کېږي هغه به بشپړه ساکن ويل کېږي يا حرف ساکنول او په شونډو سره حرکت اشاره کول او يا د حرکت دريمه برخه څرګندول.

### د وَقَفْ کيفيت

د وَقَفْ کيفيت په پنځه ډوله دی:

### ۱ـ وقف بِالسکُوْن

وقف بالسکون هغه وقف ته وايي، چې يو حرف له مخکې نه ساکن وي او وقف ورباندې وشي، مثال: فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ۝، په را وقف کول.

### ۲ـ وقف بِالاِسکان

هغه وقف ته وايي، چې يو حرف له مخکې نه متحرك وي او وقف کولو سره ساکن کړی شي، لکه: اِنَّآ اَعْطَيْنٰكَ الْكَوْثَرَ۝، پر را وَقَف کول. وقف بِالاِسکان په يو زور، يو زير او يو پېښ په دوه زيرونو او دوه پېښونو باندې کېږي، يوازې په دوه زورونو نه کېږي.

### ۳ـ وقف بِالاِشْمَام

وقف بِالاِشْمَام هغه وقف ته وايي، چې په يو حرف باندې پېښ راغلی وي او په وقف کولو سره ساکن کړی شي او بيا د پېښ اشاره په دواړو شونډو راغونډولو سره په داسې ډول وشي، چې يوازې کتونکی پرې پوه شي، لکه: نَسْتَعِيْنُ۝، پر نون وَقَفْ کول. وقف بِالاِشْمَام يوازې په يو پېښ او يا دوه پېښونو باندې کېږي.

### ۴ـ وقف بِالرَوْم

وقف بِالرَوْم پر داسې حرف وقف کولو ته وايي، چې پېښ او يا اصلي زير ورباندې راغلی وي وقف پرې وشي او د همدې پېښ يا زير دريمه برخه څرګنده کړل شي، لکه: مٰلِكِ يَوْمِ الدِّيْنِ او نَسْتَعِيْنُ، په نون باندې وقف کول. وقف بِالرَوْم په يو زير، يو پېښ او يا دوه زيرونو او دوه پېښونو باندې کېږي.

ketabton.com - The Digital Library

**یادونه**: د وقف روم فایده دا ده، چې ترڅو اوریدونکی د کلمې اخري حرف حرکت تشخیص کړای شي.
د وقف اشمام فایده دا ده، چې لیدونکي شخص ته د کلمې اخري حرکت ښودل دي.
د یادونې وړ ده، چې غیر ماهر قاریان به د دغه دوو طریقو څخه کمه استفاده کوي او یا به هغه په کامله توګه ترک کوي، ځکه د دغو طریقو عملي کول څه مشکل او باریک دی په خاصه توګه د روم طریقه؛ د ماهر قاریانو پرته نور په اشتباه کې لویږي.

## ۵ـ وقف بِالاِبْدَال

وقف بِالاِبْدَال پر داسې حرف وقف کولو ته وایي، چې دوه زورونه ورباندې راغلي وي او د وقف کولو پرمهال دواړه په الف بدل کړل شي یا ګرده تا راغلې وي او د وقف کولو پر مهال په ها بدله کړل شي، لکه: (اَلِيْمًا) په (اَلِيْمَا) او (حَامِيَةٌ) په (حَامِيَهْ) بدلول.

## وقف محل (ځای)

پر کوم ځای چې وقف کیږي هغې ته د وقف محل وایي. کوم خلك چې د قرآن کریم په معنی نه پوهیږي هغوی له پاره غوره دا ده، چې د آیتونو په شمېرو او د وقف پر نښو ودریږي.
هغه قاریان او عالمان چې د قرآن په معنی پوهیږي د هغوی له پاره وقف په دوه ډوله دی:
۱ـ دا چې ساه اخلي او په ډاډه زړه وقف کوي دې ته وقف اختیاري وي ۲ـ چې ساه ختمیږي مجبورۍ له امله وقف کوي دې ته وقف اضطراري وایي او په دواړو حالتونو کې وقف په څلور ډوله دی:

## ۱ـ وقف تام

وقف تام په یو کلمه باندې هغه وقف دی، چې معنی پوره شي او د راتلونکي سره هیڅ لفظي او معنوي تعلق ونه لري، لکه: د سورتونو په آخر باندي وقف، د کیسې په پای کې وقف، د مؤمنانو او کافرانو د صفاتو په آخر او یا د جنت او دوزخ د ذکر په پای کې او یا د نورو داسې موضوعاتو په پای کې وقف کول، چې د هغه موضوع پای وي. **حکم**: وقف کول حسن دي.

مثال: أُولَٰٓئِكَ عَلَىٰ هُدًى مِّنْ رَّبِّهِمْ ۖ وَأُولَٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ○ اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا سَوَآءٌ عَلَيْهِمْ ءَاَنْذَرْتَهُمْ اَمْ لَمْ تُنْذِرْهُمْ لَا يُؤْمِنُوْنَ○. [سورة البقرة: 5-6]، (المثال الأول)

## ۲ـ وقف کافي

وقف کافي په یوه داسې موضوع باندې وقف کولو ته وایي، چې د راتلونکې موضوع سره معنوي تعلق ولري، نه لفظي؛ یعني په معنی کې یو له بله تعلق لري، مګر په لفظ کې یو بل سره څه تعلق نه لري.
**حکم**: وقف او وصل دواړه جایز دي.

ketabton.com - The Digital Library

مثال: وقف کول په (الْبَيْتِ) باندې په دغه قول د الله تعالی: فَلْيَعْبُدُوا رَبَّ هَٰذَا الْبَيْتِ ○ الَّذِي أَطْعَمَهُم مِّن جُوعٍ وَآمَنَهُم مِّنْ خَوْفٍ ○. [سورة قريش: 3 ـ 4]

ځکه چې ماقبل د مابعد سره په معنی کې تعلق لري، مګر په لفظ او اعراب کې پیوستون او تعلق نه لري.

**۳ـ وقف حسن**

په یو داسې موضوع او عبارت باندې وقف کولو ته وایي، چې معنی یې پوره وي، مګر راتلونکي موضوع د معنی پوره کېدو له پاره مخکې موضوع ته اړتیا ولري.

**حکم**: څرنګه چې معنی یې پوره (حسن مفید) ده، وقفورباندې په کار دی او د ادامې په حالت کې یې له راتلونکي موضوع سره اعاده او تکرار په کار نه دی، مګر دا چې د آیت سره وي او د آیت په سر به مطلق وقف تر سره کېږي که څه هم معنوي او لفظي تعلق ولري، ځکه چې د آیت په سر باندې وقف کول سنت دي.

**۴ـ وقف قبیح**

په کوم داسې عبارت باندې وقف کول، چې راتلونکي عبارت سره لفظي او معني تعلق ولري او په معنی کې قبیح (غلطي) رامینځته کوي وقف قبیح بلل کېږي.

**حکم**: د ضرورت پرته حرام دی او که اضطراراً وقف وشي اعاده یې واجب ده.

**نوټ**: کوم کس چې د قرآن کریم په معنی نه پوهیږي هغه ته په کار ده، چې پر هغه ځایونو باندې وقف وکړي، چې په قرآن کریم کې د وقف علامه وي، بې ضرورته دې په منځ کې نه درېږي؛ د دغه نښانو په منځ کې دې نه درېږي او د دغه نښانو مطلب دا دی، چې یا خو دې پر ګول ○ آیت باندې ودرېږي، چې دې ته وقف منزل هم وایي. د آیت په منځ کې چې کوم د وقف نښانې دي پر هغوی دې وقف کوي، خو که چېرې په منځ کې یې ساه ختمه شي، نو مجبوري ده، که چېرې د مجبورۍ څخه داسې وشي، نو پر کومه کلمه چې دریدلی وي د هغې کلمې څخه یا د هغه څخه مخکې دې شروع کړي او د وروسته کلمې سره دې یو ځای کړي؛ یعنې د کوم ځایه څخه چې جمله پوره کېږي یا بله جمله شروع کېږي د هغه ځای څخه دې بېرته راوګرځوي، نو ځکه د قاري له پاره لږ تر لږه د ابتدایي عربي او د قرآن کریم د ترجمې زده کړه ډېره ضروري ده.

دا هم وپېژنی، چې پر حرکت باندې وقف کول غلط دی، لکه څنګه چې یې اکثره خلک کوي د مثال په ډول د یوه کس ساه (سُوْرَةُ الْبَقَرَه) په شروع کې د (بِمَآ أُنْزِلَ إِلَيْکَ) پر کاف باندې ختمه شي، نو په دې وخت کې کاف باید ساکن کړئ، پر زور وقف مه کوئ؛ همدا ډول بې له ساه اخیستلو وقف نه کېږي، لکه بعضې خلک د آیت پر ختمیدو باندې ساکن حرف ووایي، خو بې له نوې ساه اخیستلو دوهم آیت شروع کړي دا هم د قاعدې خلاف دی.

ketabton.com - The Digital Library

همدا ډول پر کومه کلمه چې وقف وشي که چېرې د هغې کلمې باندې د دوو زورونو تنوين وي، نو د وقف په حالت کې به هغه تنوين په الف سره بدلیږي. د مثال په ډول یو ځوك پر (اِنۡ كُنَّ نِسَاءً) باندې وقف وکړي، نو داسې به یې وايي: نِسَاءَا.

## سکت

**تعریف**: سکت په لغت د اواز بنديدلو ته وايي او په اصطلاح کې د اواز قطع کول پرته د ساه اخيستلو څخه (اواز به بندوي ليکن ساه به نه ماتوي).

**حکم**: سکت د دوو حر کتونو په اندازه واجب دی. سکت د (س) او یا هم سکته په علامه ښودل شوي وي.

په قرآن کريم کې څلور ځایه سکته ترسره کیږي:

۱ـ سورة الكهف آیت: ۱. ۲ـ سورة یس آیت: ۵۲. ۳ـ سورة القيامة آیت: ۲۷. ۴ـ سورة المتطففين آیت: ۱۴.

## قطع

**تعریف**: د قرآن کريم د قرائت پای ته رسول په بل کار مشغوليدل د تجويد په اصطلاح کې قطع بلل کیږي.

قطع یوازې په آخر د آيت کې ترسره کیږي په منځ د آيت کې صحيح نه ده او د کلمې په منځ کې قطع کول جواز نه لري.

## نون قطني

د وصل په حالت کې که چېرې د تنوين نه وروسته د وصل همزه راشي، نو تنوين په نون مکسوره سره بدلیږي، چې همدې نون ته نون قطني وايي، چې په قرآن کريم کې د کوچني (ن) په شکل لیکل شوی وي.

**د نون قطني مثال**



ketabton.com - The Digital Library

## د وقف او وصل علائم

| شمېره | علامه | مطلب | تفصیل |
|---|---|---|---|
| ۱ | ○ | آیت | چېرته چې خبره پوره شي هلته کوچنی غونډې دایره وي، چې دې دایرې ته آیت وایي. دا د وقف تام علامه ده په دې ودرېدل په کار وي. |
| ۲ | م | وقف لازم | په دې ځای کې درېدل لازمي دي، د نه درېدلو په صورت کې په معنی کې خلل راځي. |
| ۳ | ط | وقف مطلق | دغه وقف هغه مهال دی، چې د وقف په ځای کې لفظ او معنی بشپړ وي، نو وقف هم مناسب او پرځای وي او پر ما بعد يې ابتدا کول هم ډېر ښه دی، خو وصل يې هم په معنی کې کوم بدلون نه راولي. |
| ۴ | ج | وقف جایز | دا د جایز وقف نښه ده دلته دریدل غوره دی او نه دریدل جایز دي. |
| ۵ | ز | وقف مجوز | دلته وقف او وصل دواړه جایز دي، مګر وصل د وقف په نسبت غوره او قوي دی. |
| ۶ | ص | وقف مرخص | د رخصت ورکړ شوي وقف نښه ده، چې دلته د نفس تنګۍ په وجه وقف رخصت دی؛ یعنې که څوك ستړی شي وقف جایز دی او د هغه پرته وقف نه کول غوره دي. |
| ۷ | ق | قد قیل | دا د (قیل علیه الوقف) خلاصه دلته دریدل په کار نه دی. |
| ۸ | ك | كذالك (همدارنګه) | کومه علامه چې مخکې تېره شوې وي دلته هم همغه ګڼل په کار دی. |
| ۹ | قف | ودرېږه | دا علامه هلته په کارېږي، چې د لوستونکي د پیوستې وینا احتمال وي. |
| ۱۰ | لا | وقف نشته | دا علامه کله د آیت د پاسه لیکل شوې وي او کله د عبارت د ننه وي که د عبارت د ننه وي هلته دریدل بالکل نشته او که د ایت د پاسه وي په دې کې اختلاف دی؛ ځینې وايي |

ketabton.com - The Digital Library

| | | | |
|---|---|---|---|
| | | | دریدل روا دي، ځینې بیا وایې نه دریدل روا دي، خو که ودریږي یا ونه دریږي په مطلب کې کوم خلل نه راځي. |
| ۱۱ | قلی | قیل لا وقف علیه | ځینې علماء وایي، چې دلته وقف نشته. |
| ۱۲ | صل | یوصل (پیوسته کول) | دلته وصل او وقف دواړه جایز، مګر وصل غوره دی. |
| ۱۳ | صلی | الوصل اولی | دلته وصل غوره دی، مګر وقف هم جایز دی. |
| ۱۴ | وقفه | د سکتې علامه | دا د اوږدې سکتې علامه ده دلته د سکتې په نسبت ډېر دریدل په کار دي، لیکن چې تنفس جاري وي. |
| ۱۵ | س | سکته | دا د سکتې نښه ده دلته لږ وخت دریدل په کار دي، خو تنفس به باقي وي (آواز به بندوي، لیکن ساه به نه ماتوي). |
| ۱۶ | ∴ | مُعَانقه | د معانقې د وقفونو معنی دا ده، چې که چېرې په اول باندې ودرېدې او وقف دې وکړ، نو په دوهم به تیریږي وصل به کوي او که په اول کې دې وصل وکړ په دوهم کې به وقف کوي. |

ketabton.com - The Digital Library

# پنځم فصل

## د ساکن نون او تنوین احکام

ساکن نون هغه دی، چې حرکت (زور، زیر او پېښ) ونه لري؛ یعنې غړوندي واله (نْ) دی او تنوین دوه زوروںه، دوه زیرونه او دوه پېښونه (ــًـٍـٌ) ته وايي. ساکن نون او تنوین څلور احکام لري، چې عبارت دي له: ادغام، اقلاب، اخفاء او اظهار.

### ۱ـ ادغام

ادغام په لغت کې د یو شیز په بل شیز کې داخلولو ته ویل کېږي او د علم تجوید په اصطلاح کې کله چې د ساکن نون یا تنوین څخه وروسته د (یرملون) (ی، ر، م، ل، و، ن) د تورو څخه کوم یو توری راشي، نو هلته ادغام کېږي او دا ډول ادغام دوه ډوله دی: الف ـ غُنه لرونکی ادغام ب ـ بې غُنې ادغام.

**الف ـ غُنه لرونکی ادغام**: کله چې د ساکن نون یا تنوین څخه وروسته د یمنو (ی، م، ن، و) له تورو څخه کوم توری راشي غُنه لرونکی ادغام په کې کېږي.

**ب ـ بې غُنې ادغام**: کله چې د ساکن نون یا تنوین څخه وروسته د لر (ل، ر) کوم یو توری راشي بې غُنې ادغام په کې کېږي.

### د غُنه لرونکي ادغام مثالونه

| | | |
|---|---|---|
| ی | مَنْ يَّهْدِيْ | مَنْ يَّقُوْلُ |
| م | مِنْ مَّالٍ | قَرَارٍ مَّكِيْنٍ |
| و | مَنْ وُّجِدَ | يَوْمَئِذٍ وَّاجِفَةٌ |
| ن | عَنْ نَّفْسٍ | اِنْ نَّقُوْلُ |

### د بې غُنې ادغام مثالونه

| | | |
|---|---|---|
| ل | اِنْ لَّبِثْتُمْ | مَتَاعًا لَّكُمْ |
| ر | مِنْ رَّبِّكُمْ | مَثَلًا رَّجُلًا |

ketabton.com - The Digital Library

**استثناءات**

۱ـ د ادغام لپاره دا شرط دی، چې مدغم به په یو کلمه کې او مدغم فیه به په بله کلمه کې وي، مګر که چېرې په یوه کلمه کې وي هلته اظهار مطلق تر سره کېږي او په قرآنکریم کې څلور ځایونه داسې دي، لکه: الدُّنْيَا، صِنْوَانٌ، قِنْوَانٌ، بُنْيَانٌ.

۲ـ کله چې په ساکن نون او میم وقف وشي، نو اظهار مطلق واجب دی.

۳ـ ځینې ځایونه د نون ساکن او تنوین له قواعدو څخه مستثنی دي، لکه: يٰسٓ ۝ وَالْقُرْاٰنِ الْحَكِيْمِ ۝، نٓ وَالْقَلَمِ وَمَا يَسْطُرُوْنَ ۝.[21] د امام شاطبي په نزد د وصل په حالت د سین نون (یس) کې او همدارنګه دوهم آیت شریف کې حرف نون کې اظهار تر سره کېږي.

## په عمومي توګه د ادغام اقسام

د صرفیانو په اصطلاح کې که دوه همجنس توري په یوه کلمه کې په پر له پسې توګه راشي په داسې حال کې چې لومړی یې ساکن او دوهم متحرک وي، نو ادغام منځ ته راځي لومړی توری په دوهم کې مدغم کېږي او دا ډول ادغام په درې ډوله دی:

### ۱ـ د متجانسین ادغام

که دوه توري له یو جنس (یو مخرج) څخه په یوه کلمه کې په پرله پسې توګه راشي، چې اول یې ساکن او دوهم یې متحرک وي، نو ساکن حرف په متحرک کې مدغم کېږي، چې دې ته د جنسینو ادغام ویل کېږي، لکه: قَدْتَّبَيَّنَ، چې (قَتَّبَيَّنَ) لوستل کېږي؛ يٰبُنَيَّ ارْكَبْ مَّعَنَا، چې (يٰبُنَيَّ ارْكَمَّعَنَا) لوستل کېږي؛ يَلْهَثْ ذٰلِكَ، چې په وصل کې (يَلْهَذّٰلِكَ) لوستل کېږي؛ اِذْ ظَّلَمْتُمْ، چې (اِظَّلَمْتُمْ) لوستل کېږي.

په پورته مثالونو کې د (دال، تا)، (با، میم)، (ثا، ذال) او (ذ، ظ) حروف له یو مخرج څخه دي، چې یو په بل کې مدغم شوي او د ادغام نښه یې شد دی.

### ۲ـ د مثلینو ادغام

که دوه یوشان توري په یوه کلمه کې په پرله پسې ډول راشي، چې اول یې ساکن او دوهم یې متحرک وي، نو ساکن حرف په متحرک کې مدغم کېږي، چې دې ته د مثلینو ادغام وايي، لکه: فَمَا رَبِحَتْ تِّجَارَتُهُمْ، چې (رَبِحَتِّجَارَتُهُمْ) ویل کېږي، وَقَدْ دَّخَلُوْا، چې (وَقَدَّخَلُوْا) ویل کېږي، وَذَا النُّوْنِ اِذْ ذَّهَبَ مُغَاضِبًا، چې (اِذَّهَبَ) ویل کېږي.

---

[21] [سورة یس: 1–2] او [سورة القلم: 1]

ketabton.com - The Digital Library

### ۳ـ د متقاربينو ادغام

که دوه داسې توري په يوه کلمه کې پر له پسې راشي، چې مخرجونه يې سره نږدې وي په داسې ډول، چې اول يې ساکن او دوهم يې متحرك وي، نو ساكن حرف په متحرك کې مدغم کيږي، چې دې ته د متقاربينو ادغام ويل کيږي، لکه: ساکن (قاف) په (کاف) کې چې مخرجونه يې سره لنډ دي، لکه: اَلَمۡ نَخۡلُقۡكُّمۡ مِّنۡ مَّآءٍ مَّهِيۡنٍۙ.[22] ساکن (لام) په (را) کې: وَقُلۡ رَّبِّ زِدۡنِيۡ عِلۡمًا○.[23] ساکن (نون) په (را) کې، لکه: اُولٰٓئِكَ عَلٰى هُدًى مِّنۡ رَّبِّهِمۡ.[24] لاندې حالات ورڅخه مستثنى دي، ځکه چې دلته سکته اداء کيږي: كَلَّا بَلۡ رَّانَ عَلٰى قُلُوۡبِهِمۡ مَّا كَانُوۡا يَكۡسِبُوۡنَ○.[25]، وَقِيۡلَ مَنۡ رَّاقٍۙ.[26]

**قاعده**: د هغه ادغام چې لومړی توری يې ساکن او دوهم متحرك وي حکم واجب دی، لکه: فَقُلۡنَا اضۡرِبۡ بِّعَصَاكَ الۡحَجَرَ.[27]

**قاعده**: که د متماثلينو په ادغام کې لومړی او دوهم توری دواړه متحرك وي، نو هلته ادغام كول جايز دي، لکه: **لاتأمنا** (چې په اصل کې) **لاتأمننا** وو. د عاصم رحمه الله په نزد جايز ادغام په ټول قرآن کې همدا يو ځای د **لاتأمنا** په کلمه کې دی. او که چېرته لومړی توری متحرك او دوهم ساکن وي هلته ادغام کول منع دي، لکه: **يَغۡضُضۡنَ**، دا ځکه چې لومړی توری قوي متحرك دی او دوهم توری چې ساکن دی ضعيف دی، چې د ادغام تحمل نه لري. د ادغام په وجه د ادغام دوهم توری ځيني وخت په مکمل ډول له منځه ځي او د ځينو آواز پاتې کيږي، چې دوه قسمه دی:

### ۱ـ کامل ادغام

هغه ادغام دی، چې کله دوه توري چې لومړی ساکن او دوهم متحرك وي مدغم شي تر ادغام وروسته د لومړي توري د تلفظ کولو هيڅ اثر پاتې نه شي، لکه: اُجِيۡبَتۡ دَّعۡوَتُكُمَا.[28] ليدل کيږي، چې د (تا) لفظاً او صفتاً نه تلفظ کيږي، يا لکه: اُولٰٓئِكَ عَلٰى هُدًى مِّنۡ رَّبِّهِمۡ.[29] دا ډول ادغام په قرآنكريم کې په مشدد ډول ښودل شوی وي.

---

[22] [سورة المرسلت: 20]
[23] [سورة طه: 114]
[24] [سورة البقرة: 5]
[25] [سوره المتففين: 14]
[26] [سوره القيامة: 27]
[27] [سورة البقره: 60]
[28] [سورة يونس: 89]
[29] [سورة البقرة: 5]

ketabton.com - The Digital Library

### ۲ـ ناقص ادغام

د دوو تورو داسې ادغام چې لومړی ساکن او دوهم متحرک وي تر ادغام وروسته د لومړي ذاتاً خه اثر پاتې ولې صفت يې باقي وي يا په بل عبارت کله چې اول حرف د يو څو صفاتو سره په دوهم حرف کې مدغم شي دې ته ناقص ادغام وايي، مثال: وَمَا لَهُمْ مِّنَ اللّٰهِ مِنْ وَّاقٍ○[30]، مَنْ يَّقُوْلُ. ليدل کيږي، چې نون په (واو) او (يا) مدغم شوی دی، مګر د غُنې صفت يې پر ځای پاتې دی، چې داسې تلفظ کيږي: مِـ ںْ ـوَّاقٍ، مَـ ںْ ـيَّقُوْلُ.

### اقلاب

اقلاب لغتاً يو شيز په بل شيز بدلولو ته وايي او د علم تجويد په اصطلاح کې کله چې د ساکن نون او يا تنوين څخه وروسته د (ب) توری په کومه کلمه کې راشي، نو تنوين يا ساکن نون په واړه ميم بدليږي او غُنه په کې ضروري وي. مثال: مِنْۢ بَعْدِ، سَمِيْعٌۢ بَصِيْرٌ.

### اظهار

اظهار په لغت کې ښرګندولو ته وايي او د علم تجويد په اصطلاح کې د دوه تورو جلا کول دي داسې چې د ساکن نون او تنوين څخه وروسته د حلقي حروفو (ء، ه، ع، ح، غ، خ) څخه يو توری راشي ساکن نون يا تنوين اظهاريږي؛ يعنې ښکاره او له وروستي توري څخه جلا تلفظ کيږي. نون په طبعي شکل له خپل مخرج څخه اداء کيږي، ځکه چې نون د خولې له ابتدا څخه راوځي او حلقي حروف په حلق کې اداء کيږي، چې فاصله يې يو تر بله ډيره ده.

**د اظهار مثالونه**

| | | | |
|---|---|---|---|
| ء | يَنْئَوْنَ | مِنْ اَمْرِهِمْ | كُلٌّ اٰمَنَ |
| هـ | عَنْ هٰذَا | اِنْ هُوَ | فَرِيْقًا هَدٰى |
| ع | اَنْعَمْتَ | مَنْ عَمِلَ | سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ |
| ح | تَنْحِتُوْنَ | فَمَنْ حَجَّ | حَكِيْمٌ حَمِيْدٌ |
| غ | فَسَيُنْغِضُوْنَ | مِنْ غِلٍّ | قَوْلًا غَيْرَ |
| خ | اَلْمُنْخَنِقَةُ | مِنْ خَيْرٍ | حَكِيْمٌ خَبِيْرٌ |

[30] سورة الرعد: 34]

ketabton.com - The Digital Library

**اخفاء**

اخفاء په لغت کې پټولو ته وايي او د علم تجويد په اصطلاح کې کله چې د اظهار، ادغام او اقلاب له حروفو څخه پرته د هجاء د نورو پنځلسو ( ت، ث، ج، د، ذ، ز، س، ش، ص، ض، ط، ظ، ف، ق،ك) تورو څخه يو توری د ساکن نون يا تنوين څخه وروسته راشي، نو د غُنې سره اخفاء په کې کيږي؛ يعنې د ساکن نون يا تنوين د اداء کولو مخرج د اخفاء د حرف مخرج ته وړل کيږي او هلته اداء کيږي. يا په بل عبارت کله چې د اخفاء توري له ساکن نون او تنوين څخه وروسته راشي، نو ساکن نون يا تنوين په متوسط ډول د اظهار او ادغام تر منځ اداء کيږي.

د اخفاء يو څو تورو مثالونه:

ص: يَنْصُرْكُمْ    رِيْحًا صَرْصَرًا

ذ: مُنْذِرٌ    سِرَاجًا ذٰلِكَ

همداسې د هجا د نورو حروفو لپاره.

**د ساکن نون او تنوين د احکامو لنډيز**

| ادغام | | | |
|---|---|---|---|
| د ساکن توري داخلېدل په محترک توري کې، چې د يو مشدد توري په توګه لوستل کيږي. دوه قسمه دی:<br>۱ـ غُنه لرونکی ۲ـ پرته له غُنې | | | |
| حروف | مثالونه | | |
| | ساکن نون | تنوين | |
| ي | مَنْ يَّقُوْلُ | لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يَّعْقِلُوْنَ | غُنه لرونکی ادغام |
| ن | مِنْ نِّعْمَةٍ | عَامِلَةٌ نَّاصِبَةٌ | |
| م | مِنْ مَّآءٍ | عَذَابٌ مُّهِيْنٌ | |
| و | مِنْ وَّلِيٍّ | جَزَآءً وِّفَاقًا | |
| ل | مِنْ لَّدُنَّا | فَسَلٰمٌ لَّكَ | بې غُنې ادغام |
| ر | مِنْ رَّبِّهِمْ | غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ | |

ketabton.com - The Digital Library

| اقلاب | | |
|---|---|---|
| د ساکن نون او تنوین بدلول په میم باندې سره له غُنې او حرف با. | | |
| حروف | مثالونه | |
| | ساکن نون | تنوین |
| ب | مِنۢ بَعۡدِ | سَمِيۡعٌۢ بَصِيۡرٌ |
| نون او تنوین ځکه په میم بدلیږي، چې (م) مخرج د (با) د مخرج سره مشترك دی او همدارنګه د (م) توری د (نون) سره په غُنه کې مشترك مخرج لري. | | |

| اظهار | | |
|---|---|---|
| د غُنې ځخه پرته د اظهار د تورو او نون حرف څرګند او ښکاره لوستل. | | |
| حروف | مثالونه | |
| | ساکن نون | تنوین |
| ء | يَنۡـَٔوۡنَ | كُلٌّ اٰمَنَ |
| هـ | مِنۡ هٰذِهٖ | جُرُفٍ هَارٍ |
| ع | مَنۡ عَمِلَ | حَقِيۡقٌ عَلٰٓى |
| ح | مَنۡ حَآدَّ اللّٰهَ | عَلِيۡمٌ حَلِيۡمٌ |
| غ | مِنۡ غِلٍّ | قَوۡلًا غَيۡرَ |
| خ | اَلۡمُنۡخَنِقَةُ | وُجُوۡهٌ يَّوۡمَئِذٍ خَاشِعَةٌ |

ketabton.com - The Digital Library

## اخفاء

د ادغام او اظهار تر منځ حالت دی د تشدید څخه پرته غُنه.

| حروف | مثالونه | |
|---|---|---|
| | ساکن نون | تنوین |
| ص | يَنۡصُرۡكُمۡ | رِيۡحًا صَرۡصَرًا |
| ذ | مُنۡذِرٌ | سِرَاعًا ذٰلِكَ |
| ث | مِنۡ ثَمَرَةٍ رِّزۡقًا | جَمِيۡعًا ثُمَّ اسۡتَوٰى |
| ك | اِنۡ كُنۡتُمۡ | عَادًا كَفَرُوۡا |
| ج | اَنۡ جَآءَهُ الۡاَعۡمٰى | وَّتُحِبُّوۡنَ الۡمَالَ حُبًّا جَمًّا ۝ ط |
| ش | عَذَابٌ شَدِيۡدٌ ط | عَلٰى كُلِّ شَىۡءٍ شَهِيۡدٌ ۝ |
| ق | مِنۡ قَبۡلُ | اِنَّآ اَنۡذَرۡنٰكُمۡ عَذَابًا قَرِيۡبًا |
| س | يٰۤاَيُّهَا الۡاِنۡسَانُ | وَرَجُلًا سَلَمًا لِّرَجُلٍ ط |
| د | عِنۡدَ رَبِّكُمۡ ط | خُلِقَ مِنۡ مَّآءٍ دَافِقٍ ۝ |
| ط | يَنۡطِقُوۡنَ ۝ | صَعِيۡدًا طَيِّبًا |
| ز | وَلَقَدۡ اَنۡزَلۡنَآ | يَوۡمَئِذٍ زُرۡقًا ۝ |
| ف | وَمِمَّا رَزَقۡنٰهُمۡ يُنۡفِقُوۡنَ ۝ | اِنَّهٗ لَقَوۡلٌ فَصۡلٌ ۝ |
| ت | مِنۡ تَحۡتِهَا الۡاَنۡهٰرُ | جَنّٰتٍ تَجۡرِىۡ |
| ض | لَا يَضُرُّكُمۡ مَّنۡ ضَلَّ | وَكُلًّا ضَرَبۡنَا |
| ظ | اِنۡ ظَنَّآ | ظِلًّا ظَلِيۡلًا ۝ |

ketabton.com - The Digital Library

# د ساکن میم احکام

ساکن میم درې احکام لري: ادغام، اخفاء او اظهار.

### ۱ـ ادغام

ساکن میم فقط په میم کې ادغامیږي. کله چې د ساکن میم نه وروسته بل متحرک میم راشي، نو میم په میم کې مدغم کیږي او د یوه الف یا دوو حرکتونو په اندازه غُنه په کې کیږي، لکه: اَمْ مَّنْ، وَمِنْهُمْ مَّنْ، کَمْ مِّنْ، لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ.

### ۲ـ اخفاء

کله چې له ساکن میم نه وروسته د (ب) حرف راشي له غُنې سره اخفاء کیږي، چې دې ته شفوي اخفاء هم ویل کیږي؛ یعنې شونډې به دیوه ویښته په اندازه فاصله لري او مکملې به نه سره لګیږي.
احکام تجوید لیکي، چې که د میم نه وروسته د (ب) حرف راشي اخفاء او اظهار دواړه روا دي ولې اخفاء کول غوره دي. مثالونه: هُمْ بَارِزُوْنَ، وَكَلْبُهُمْ بَاسِطٌ، اِنَّ رَبَّهُمْ بِهِمْ.

### ۳ـ اظهار

د ادغام او اخفاء حروفو (م، ب) پرته نور شپږویشت حروف که له ساکن میم وروسته راشي اظهار کیږي؛ یعنې ساکن میم له غُنې پرته ښکاره او له خپل مخرج څخه اداء کیږي، لکه: اَنَّ لَهُمْ جَنّٰتٍ، اَمْ حَسِبْتُمْ اَنْ تَدْخُلُ الْجَنَّةَ، اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ، لَهُمْ فِيْهَآ. خو د نورو حروفو په پرتله په (و، ف) تورو کې د مخرج د اختلاف په وجه اشد اظهار کیږي، لکه: په (و) کې اَمْوَالٍ او په (ف) کې كَيْدَهُمْ فِيْ تَضْلِيْلٍ.

ketabton.com - The Digital Library

## د ساکن میم احکامو لنډيز

| ادغام | |
|---|---|
| کله چې د ساکن میم وروسته متحرك میم راشي ادغام صورت نیسي، چې د متماثلین ادغام بلل کیږي. | |
| حرف | مثال |
| م | اَمْ مَّنْ، وَمِنْهُمْ مَّنْ، كَمْ مِّنْ. |
| دې ادغام ته متماثلین ادغام وایي، ځکه دواړه توري یو شان د یو مخرج څخه دي او همدارنګه ادغام صغیر هم بلل کیږي، ځکه چې اول یې ساکن او دوهم یې متحرك دی. | |
| **شفوي اخفاء** | |
| هر کله چې د ساکن میم وروسته د (با) حرف راشي هلته اخفاء کیږي، چې دغې اخفاء ته شفوي اخفاء ویل کیږي. | |
| حرف | مثال |
| ب | هُمْ بَارِزُوْنَ، وَكَلْبُهُمْ بَاسِطٌ. |
| **اظهار** | |
| کله چې د ساکن میم وروسته د (با او میم) حروفو پرته د هجاء نور حروف راشي هلته اظهار کیږي؛ یعني د غُني پرته څرګند لوستل کیږي. | |
| مثالونه | |
| اَمْ اَمِنْتُمْ، يَمْتَرُوْنَ، اَنَّ لَهُمْ جَنّٰتٍ، اَمْ خُلِقُوْا. | |

## مشدد نون او میم

| حروف | مثال | | |
|---|---|---|---|
| | په حروفو کې | په افعالو کې | په اسماء کې |
| ن | اِنَّ | تَظُنُّوْنَ | مِنَّا |
| م | ثُمَّ | دَمَّرْنٰهُمْ | هَمَّازٍ |
| **حکم**: د دوو حرکتونو په اندازه غُنه کول. | | | |

ketabton.com - The Digital Library

## غُنه

غُنه په لغت کې زمزمې یا د آواز تلل دي پُزې ته او په اصطلاح کې غُنه هغه آواز دی، چې له خیشوم (د پوزې له وروستی برخې) څخه راوځي او د یوه الف یا دوو حرکتونو په اندازه کش کول کیږي. غُنه په میم مشدد، میم مدغم او میم اخفاء، نون مشدد، نون مدغم، نون احفاء او تنوین کې تر سره کیږي. غُنه پر دوه قسمه ده؛ یوه غُنه یي آني ده او بله غُنه زماني ده، غُنه آني په میم او نون کې وي؛ یعنې هغه میم او نون، چې مشدد یا ساکن نه وي او غُنه زماني بیا پر دوه قسمه ده: یوه اصلي او بله طبعي یا ضمني ده. غُنه اصلي په میم او نون مشدد کې وي، لکه: اِنَّ، ثُمَّ او غُنه طبعي یا ضمني پر پنځه (۵) ډوله ده:

۱ـ تر میم ساکن وروسته چې بل میم راشي، لکه: كَمْ مِّنْ فِئَةٍ.

۲ـ د میم ساکن وروسته چې حرف با راشي، لکه: تَرْمِيهِمْ بِحِجَارَةٍ.

۳ـ تر نون ساکن یا تنوین وروسته چې (میم، واو، یا) او نون راشي، لکه: عَنْ مِّلَّةٍ، مِنْ وَّالٍ، مَنْ يَّرْغَبُ، مَنْ نَّشَآءُ، اِثْمًا مُّبِيْنًا، لِقَوْمٍ يَّفْقَهُوْنَ.

۴ـ تر نون ساکن یا تنوین وروسته چې د اخفاء حقیقي حروف راشي او هغه حروف پنځلس دي، چې په لاندې ډول دي: (ت، ث، ج، د، ذ، ز، س، ش، ص، ض، ط، ظ، ف، ق، ك، لکه: اَنْ يَّنْكِحَ، اَنْزِلُ، اَبًا شَيْخًا كَبِيْرًا، وَلَيَنْصُرُنَّ اللهُ، مَنْ يَّنْصُرُهُ.

۵ـ تر نون ساکن یا تنوین وروسته چې حرف با راشي په اصل کې دا پنځه قسمه نورې قاعدې دي، خو غُنه یې طبعي یې په ضمن کې پرته ده او د غُنه یې زماني اندازه یو الف ده.

غُنه لره پنځه مراتب دي:

۱ـ المشدد (شد لرونکي میم او نون کې کامله غُنه تر سره کیږي).

۲ـ المدغم (د ادغام په صورت کې کامله غُنه تر سره کیږي).

۳ـ المخفي (د اخفاء نون او تنوین او اخفاء شفوي او اقلاب په صورت کې کامله غُنه د دوو حرکتونه په اندازه تر سره کیږي).

۴ـ الساکن المظهر (کله چې نون ساکن وروسته حلقي حروف وي په نون کې ناقصه غُنه تر سره کیږي او د شفوي اظهار په صورت په میم کې ناقصه غُنه اداء کیږي).

۵ـ المتحرك (په نون او میم متحرك کې ناقصه غُنه تر سره کیږي).

ketabton.com - The Digital Library

# شپږم فصل

## د را احکام یا د را قاعدې

را درې حالتونه لري: ۱ـ تفخیم ډک لوستل ۲ـ ترقیق باریک لوستل ۳ـ جوازالامرین ډک او باریک دواړه لوستل.

په لاندې یوولس ځایونو کې را ډکه لوستل کیږي:

۱ـ را چې زور ولري او شد ورباندې نه وي راغلی: رَحِيْمٌ.

۲ـ را چې پېښ ولري او شد ورباندې نه وي راغلی: رُبَمَا.

۳ـ را چې شد او زور وربانديې راغلي وي: اَلرَّحْمٰنِ.

۴ـ را چې پېښ او شد وربانديې راغلي وي: مَرُّوْا.

۵ـ را چې ساکنه وي او مخکې یې زور راغلی وي: اَرْسَلَ.

۶ـ را چې ساکنه وي او مخکې یې پېښ راغلی وي: يُرْزَقُوْنِ.

۷ـ را چې عارضي ساکنه وي او مخکې یې اصلي ساکن حرف وي او له هغه نه پر مخکني (دریم) حرف زور راغلی وي: وَالْعَصْرِ.

۸ـ را چې عارضي ساکنه وي او مخکې یې اصلي ساکن حرف وي او له هغه نه پر مخکني (دریم) حرف پېښ راغلی وي: لَفِيْ خُسْرٍ.

۹ـ را په وقف رَوم کې، چې د پاسه یې پېښ وي: مُنْتَصِرٌ.

۱۰ـ را چې ساکنه وي او پر مخکني حرف یې عارضي زیر وي، لکه: ارْجِعُوْنَ، ارْجِعْ، ارْجِعِيْ.

۱۱ـ را چې ساکنه وي او مخکې یې په بېله کلمه کې زیر وي، لکه: اِنِ ارْتَبْتُمْ، رَّبِّ ارْ حَمْهُمَا.

را په اوو حالتونو کې باریکه لوستل کیږي:

۱ـ را چې زیر ولري او شد وربانديې نه وي راغلی: رِجَالٌ.

۲ـ را چې زیر او شد دواړه ولري: اَلرِّجَالُ.

۳ـ را چې ساکنه وي او مخکېنی حرف یې زیر ولري: شِرْعَةً.

۴ـ را چې عارضي ساکنه وي او مخکې یې سکون اصلي وي په وقف کې: الْحِجْرِ.

۵ـ را چې د وقف په حالت کې ساکنه وي او مخکې یې ساکنه (یا) راغلې وي: خَيْرٌ.

۶ـ را چې زیر ولري او وقف رَوم پرې وشي: وَالْفَجْرِ.

ketabton.com - The Digital Library

۷ـ را په اماله کې: بِسۡمِ ٱللَّهِ مَجۡرٜىٰهَا وَمُرۡسَىٰهَآ.[31]

را په لاندې دوو ځایونو کې دواړه ډوله (باریکه او ډکه) لوستل کیږي:

۱ـ کله چې را ساکنه وي او مخکې حرف یې اصلي زیر ولري او وروسته په همدې کلمه کې مستعلیه حرف راغلی وي، لکه: قِرۡطَاسٍ، فِرۡقَةٍ، وَإِرۡصَادًا، مِرۡصَادًا، لَبِٱلۡمِرۡصَادِ. د دې یوازې همدا پنځه مثالونه دي.

۲ـ را چې د وقف له کبله ساکنه وي او مخکې حرف یې مستعلیه ساکن وي او ورپسې دریم حرف زیر ولري، لکه: عَيۡنَ ٱلۡقِطۡرِ، مِصۡرَ.

[31] اماله میلان او راښکلو ته وایي مجرې ها په اصل کې مجراها، را د یا طرف ته میلان وکړ.

ketabton.com - The Digital Library

# د حرف لام احکام

۱ـ په لفظ جلاله (الله ﷻ) کې که د لام نه مخکې حرف زور یا پېښ ولري تفخیم کیږي؛ یعنې (لام) ډک تلفظ کیږي، لکه: وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ، فَزَادَهُمُ اللّٰهُ. همدارنګه که د (لام) نه مخکې حرف ساکن وي له هغه مخکې حرف زور یا پېښ ولري په دې صورت کې هم د (لام) توری ډک اداء کیږي، لکه: عَلَى اللّٰهِ، وَاعْبُدُوا اللّٰهَ.

۲ـ که د (لام) نه مخکې حرف زیر ولري یا د (لام) نه مخکې حرف ساکن وي او د هغه نه مخکې حرف زیر ولري ترقیق کیږي؛ یعنې (لام) باریک اداء کیږي، لکه: قُلِ اللّٰهُمَّ، بِسْمِ اللّٰهِ، وَيُنَجِّي اللّٰهُ. مګر لام (ال) بغیر له لفظ جلاله نه په نورو کلماتو کې په دوه ډوله دی:

### ۱ـ (شمسي حروف) (ال) شمسي

### ۲ـ (قمري حروف) (ال) قمري

### لومړی ـ شمسي حروف

شمسي حروف هغه حروف دي، چې کله (الف، لام) پرې داخل شي، نو (لام) نه لوستل کیږي، بلکې په وروستي حرف کې مدغم کیږي، لکه: النَّاسُ، الطَّآمَّةُ، الشَّمْسِ، التَّوَّابُ اوداسې نور. شمسي حروف عبارت دي له: ت، ث، د، ذ، ر، ز، س، ش، ص، ض، ط، ظ، ل، ن)، له دغه حروفو څخه بغیر نور پاتې حروف قمري حروف دي. د شمسي (ال) د پیژندنې علامه دا ده، چې د لام نه وروسته حرف شد لرونکی وي.

### دوهم ـ قمري حروف

قمري حروف هغه حروف دي، چې کله (الف، لام) پرې داخل شي، نو (لام) لوستل کیږي؛ یعنې نه مدغمیږي، لکه: الْقَمَرُ، الْعَلِيْمُ، الْخَبِيْرُ، الْوَدُوْدُ او داسې نور.

ketabton.com - The Digital Library

# د همزه وصل احکام

**تعریف**: همزه وصل هغه زیاته شوې همزه ده، چې د ساکن حرف د لوستلو لپاره کارول کیږي په اول د کلمې کې لوستل کیږي او په منځ د کلمې نه لوستل کیږي. د قرآنکریم ځینې کلمات داسې وي، چې لومړی حرف یې ممکن حرکت (زور، زیر، پېښ) لرونکی وي د دا ډول کلماتو د تلفظ په پیل کولو کې څه مشکل نه وي، مګر په داسې صورت کې چې د کلمې لومړی حرف ساکن وي، نو د هغه د تلفظ شروع غیر ممکنه وي، نو باید د هغه د ابتداء لپاره د وصل همزه وکاروو ترڅو وتوانیږو د کلمې لومړی حرف تلفظ کړای شو په همدې وجه د (وصل همزې) په نوم یادیږي؛ یعنې د وصل د همزې په وسیله د کلمې لومړی ساکن حرف تلفظ کیږي.

## د همزې ډولونه

همزه دوه قسمه ده: همزه وصل (ا) او همزه قطع (أ).

**همزه وصل**: هغه همزه ده، چې کله د کلمې په پیل کې راشي تلفظ کیږي، مګر کله چې د کلمې په منځ کې راشي نه تلفظ کیږي. د کلمې په پیل کې، لکه: **العمَّ**، **المدرسة**. د کلمې په منځ کې، لکه: **ما اسْمُکَ**.

**همزه قطع**: هغه همزه ده، چې په هر حالت کې تلفظ کیږي. د وصل همزه په دریو کلمو اسم، فعل او حرف کې واقع کیږي.

## د همزه وصل حرکات

### ۱ـ حرف

په قرآنکریم کې هغه حرف چې د وصل همزه اخلي حرف تعریف (الف، لام) دی، چې د وصل په حالت کې زور اخلي. کله چې د وصل همزه په لام تعریف داخله شي د ابتدا او پیل په حالت لوستل کیږي او په منځ کې نه لوستل کیږي، لکه دغه قول د الله ﷻ: **اَلتَّآئِبُوْنَ الْعٰبِدُوْنَ الْحٰمِدُوْنَ السَّآئِحُوْنَ الرّٰكِعُوْنَ السّٰجِدُوْنَ**.[32] وینو، چې همزه وصل یوازې په (**التَّآئِبُوْنَ**) لوستل او په نورو ټولو کلمو کې ساقطیږي او د فتحې (زور) حرکت اخلي.

**ملاحظه**: کله چې همزه استفهام (د سوالیه همزه) په الف لام تعریف داخله شي، نو همزه په الف مد بدلیږي، لکه: آللّٰهُ په لقوله تعالی: **قُلْ آٰللّٰهُ اَذِنَ لَكُمْ اَمْ عَلَى اللّٰهِ تَفْتَرُوْنَ**○.[33]

---

[32] [سورة اَلتَّوْبَه: 112]

[33] [سورة يُوْنُس: 59]

ketabton.com - The Digital Library

**۲ـ اسم**

د وصل همزه په سماعي او قیاسي اسماء داخلیږي او سماعي اسماء لس دي، چې د هغه څخه اووه اسماء په قرآنکریم کې ذکر شوي دي، لکه: **اِبن، اِبنت، اثنان، اثنتان، امرؤ، امرأة، اسم.**

لکه دا قول د الله ﷻ: **اِبْنَ مَرْيَمَ.**[34] **اِبْنَتَ عِمْرٰنَ.**[35] قیاسي اسماء: د خماسي فعل مصدر، لکه: **اِبتغاء، اِفتراء.** د سداسي فعل مصدر، لکه: **اِستکبار.** په اسماء کې د وصل همزه همېشه زیر لرونکي وي.

**۳ـ فعل**

د اسم او حرف پرته د قرآنکریم نورې کلمې د فعل دي د فعل د کلمې دریم حرف ته ګورو که چېرې د فعل د دریم حرف حرکت زور یا زیر لرونکی وي، نو د وصل همزه مکسوره (زیر لرونکی) وي او که د فعل دریم حرف مضموم (پېښ لرونکی) وي، نو د وصل همزه به هم مضمومه وي، لکه: قوله سبحانه وتعالی: **اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ ۝**.[36] و قوله سبحانه وتعالی: **اِسْتَغْفِرْ لَهُمْ اَوْ لَا تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ.**[37] و قوله سبحانه وتعالی: **اُدْخُلُوا الْجَنَّةَ لَا خَوْفٌ عَلَيْكُمْ وَلَا اَنْتُمْ تَحْزَنُوْنَ ۝**.[38]

---

[34] [سورة البَقَرَة: 87]

[35] [سورة اَلتَّحْرِيْم: 12]

[36] [سورة الْفَاتِحَةِ: 5]

[37] [سورة اَلتَّوْبَة: 80]

[38] [سورة اَلْاَعْرَاف: 49]

ketabton.com - The Digital Library

# اووم فصل

## د مد احکام

مد په لغت کې کش کولو ته وايي او د تجويد په اصطلاح کې د مد د تورو صوت ته له طبعي اندازې زيات کش کولو ته مد وايي. د مد توري درې دي: (الف، واو، يا)؛ يعنې چې کله (الف) ساکن ماقبل حرف يې فتحه يا زور ولري، لکه: قَاْلَ. او چې کله (واو) ساکن ماقبل يا مخکينی حرف يې پېښ ولري، لکه: يَقُوْلُ. او چې کله (يا) ساکنه ما قبل حرف يې کسره يا زير ولري، لکه: قِيْلَ. په يوه کلمه کې درې واړه تورو مثالونه: نُوْحِيْهَاْ، أُوْذِيْنَاْ.

هر کله چې له دغو دريو حروفو وروسته همزه يا سکون راشي د مد توري له طبعي اندازې زيات کش کول کېږي. يعنې د مد سبب دوه څيزونه دي: همزه او سکون.

ولاړ زور، ولاړ زير او خنجري پېښ هم په حروفِ مده کې داخل دي، ځکه چې ولاړ زور د الفِ مده اواز ورکوي، ولاړ زير د ياءِ مده او خنجري پېښ د واوِ مده اواز ورکوي.

**قصر (لنډول)**: قصر د مد ضد دی، چې په دې حالت کې د مد حروف په طبعي ډول کش کول کېږي او زيادت نه په کې کېږي؛ يعنې د يوه الف يا دوو حرکتونو په اندازه کش کول کېږي دا ځکه چې د مد له حروفو وروسته د مد سبب (همزه او يا سکون) نه وي راغلي. مد عموماً په دوه ډوله دی:

### ۱ـ اصلي (طبعي) مد

### ۲ـ فرعي يا طويل مد

### لومړی ـ اصلي يا طبعي مد

طبعي مد هغه مد دی، چې له مدي حروفو (الف، واو، يا) وروسته همزه يا سکون نه وي راغلی، چې د قصير يا اصلي مد په نامه هم يادېږي، چې د يو الف يا دوه حرکتونو په اندازه کش کول کېږي.

### دوهم ـ فرعي مد

فرعي مد هغه مد دی، چې له مدي حروفو وروسته سبب (همزه او سکون) راغلی وي او دغه مد د طويل مد په نامه هم يادېږي.

### د اصلي (طبعي) مد ډولونه

طبعي يا اصلي مد په څلور قسمه دی، چې په لاندې ډول بيانيږي:

ketabton.com - The Digital Library

### ۱ـ مد بدل

هغه مد دی، چې په هغه کې دوې همزې متصل یو په بل پسې راغلې وي؛ لومړۍ متحرکه او دوهمه یې ساکنه وي، دوهمه ساکنه همزه د مد په حرف؛ یعنې (الف) او یا (ی) بدله شوي وي، لکه: (اٰدَمَ) چې دا په حقیقت کې (ءَأْدَمَ) وو، چې په دې کې دوهمه همزه د مد په حرف؛ یعنې الف باندې بدله شوې او (اٰدَمَ) ترې نه جوړ شوی، یا لکه: (اِيْمَانًا) چې دا په حقیقت کې (اِءْمَانًا) وو، چې په دې کې هم دوهمه همزه د مد په حرف؛ یعنې (ی) باندې بدله شوې او (اِيْمَانًا) ترې نه جوړ شوی یا لکه: ءَامَنُوْا. د مد بدل کش کول د دوو حرکتونو په اندازه جایز دي، چې ځینې علماء کرام یې د کش کولو اندازه تر دوو حرکتونو زیاته ګڼي او په مد فرعي کې یې شماري (المیسر المفید في علم التجوید ص ۷۷).

### ۲ـ مد عوض

کله چې په مفتوح یا زور لرونکي تنوین باندې وقف وشي، نو زور لرونکی تنوین په الف باندې عوض کیږي، چې په دې صورت کې د دوو حرکتونو په اندازه مد کول واجب دي، لکه: دغه قول د الله سبحانه وتعالی: وَرَاَيْتَ النَّاسَ يَدْخُلُوْنَ فِيْ دِيْنِ اللّٰهِ اَفْوَاجًا[39]، په (اَفْوَاجًا) چې کله وقف وشي (اَفْوَاجَا) لوستل کیږي او د دوو حرکتونو په اندازه کش کول کیږي.

### ۳ـ اصلي حرفي مد

دا هغه مد دی، چې د مقطعاتو په ځینو حروفو کې راغلی وي او دوه حرکته مد په کې کیږي، لکه: حا، یا، طا، ها، را، چې دا حروف د (حی طهر) په کلمه کې جمع شوي دي.

### ۴ـ مد صله صغری یا صله قصیر

کله چې د (ها) ضمیر او (ها) اسم اشاره په یوه کلمه کې راغلې وي او له هغه څخه مخکې یا وروسته حرف متحرك وي، نو د دوو حرکتونو په اندازه مد په کې اداء کیږي، چې د پېښ په حالت کې د (واو) په شان لوستل کیږي او د زیر په حالت کې د (ی) په شان لوستل کیږي، لکه: مَالَهٗ يَتَزَكّٰى[40]، فَوَسَطْنَ بِهٖ جَمْعًا.[41]

---

[39] [سورة النصر: 2]

[40] [سورة الیل: 18]

[41] [سورة العدیت: 5]

ketabton.com - The Digital Library

## ۵ـ مد تمکین

کله چې دوې (یا) ګانې یا دوه (واو) وونه په یوه کلمه کې راشي په داسې شکل، چې اوله (ی) یا اول (واو) ساکن او دوهم متحرك وي، نو په دې حالت کې هم دوه حرکته مد اداء کیږي، چې دې ته مد تمکین وایي او درې حالتونه لري:

الف: کله چې ساکن واو وي ماقبل حرف یې پېښن ولري او د ماقبل مخکې حرف زور ولري، لکه: ءَامَنُوْا وَعَمِلُوْا الصّٰلِحٰتِ، یا کله چې د ساکن (ی) څخه مخکې متحرکه (ی) راشي، لکه: فِيْ يَوْمَيْنِ.

ب ـ کله چې مدي (واو) د پېښن لرونکي (واو) وروسته راشي، لکه: يَلْوُنَ.

ج: کله چې د زیر لرونکي مشددې (ی) وروسته مدي (ی) راشي، لکه: حُيِّيْتُمْ، النَّبِيّيْنَ یا ٱلنَّبِيّنَ، الْاُمِيّيْنَ یا ٱلْأُمِّيِّنَ.

په پورته درې واړو صورتونو کې تمکین مد اداء کیږي د دوو حرکتونو په اندازه کش کول کیږي.

## د فرعي مد احکام

## د فرعي مد ډولونه

فرعي یا غیر طبعي مد هغه مد ته وایي، چې د مد تر حروفو وروسته سبب راغلی وي، چې سبب یې همزه یا سکون دی له دوه حرکتونوڅخه زیات بیا تر شپږو حرکتونو پورې کش کول کیږي او فرعي مد په لاندې ډولو ویشل شوی دی:

هغه مد چې سبب یې همزه وي په درې ډوله دی:

۱ـ مد متصل واجب

۲ـ مد منفصل جایز

۳ـ مد صله کبری

هغه مد چې سبب یې سکون وي په دوه ډوله دی:

۱ـ اصلي سکون

۲ـ عارضي سکون

د اصلي سکون له کبله مد په څلور قسمه دی: مثقل کلمي، مخفف کلمي، مثقل حرفي او مخفف حرفي. د عارضي سکون له کبله مد په دوه ډوله دی: مد عارض لسکون او مد لین لازم. فرعي یا غیرطبعي مد په لاندې ډول په تفصیل سره ذکرکیږي:

ketabton.com - The Digital Library

### ۱ـ متصل مد

کله چې د مد له تورو وروسته همزه راشي او د مد حرف او همزه دواړه په یوه کلمه کې وي په دغه صورت کې د مد حرف د شپږو حرکتونو په اندازه کش کول کیږي، د حفص په نزد څلور یا پنځو حرکتو په اندازه کش کول کیږي او حکم یې واجب دی، لکه: شَآءَ، جَآءَ، سَوَآءٌ. وینو چې په (شَآءَ) کې الف چې د مد حرف دی وروسته همزه راغلې ده.

### ۲ـ منفصل مد

کله چې د مد له حروفو وروسته همزه راشي او د مد حرف او همزه دواړه په یوه کلمه کې نه وي، بلکې د مد حرف په یوه کلمه کې او همزه په بله کلمه کې راغلې وي منفصل (جلا) مد بلل کیږي، چې د څلورو حرکتو نه تر پنځو حرکتونو پورې کش کول کیږي او حکم یې جایز دی، لکه: وَمَآ أُنْزِلَ، فِيْٓ اَحْسَنِ، قَالُوْٓا اِنَّآ.

### ۳ـ مد صله کبری

په ټول قرآن کریم کې که ها ضمیر مفرد مذکر غائب راغله او وروسته ترې همزه راغلې وه، نو هلته صله کبری کیږي، لکه: مَالَهٗٓ اَخْلَدَهٗ، وَمِنْ اٰيٰتِهٖٓ اَنْ خَلَقَ لَكُمْ.

### ۴ـ مثقل کلمي مد

کله چې د مد حرف او سبب یې (سکون) دواړه په یوه کلمه کې راغلي وي او د مد سبب شد لرونکي توري وي یا د مد د حرف وروسته مشدد حرف راغلی وي د کلمي مثقل مد په نامه یادیږي، لکه: وَلَا الضَّآلِّيْنَ، اَلْحَآقَّةُ. په (الضَّآلِّيْنَ) کې الف چې د مد توري وروسته مشدد حرف چې لام دی راغلی دی. د دې مد حکم لازم دی؛ یعنې د شپږو حرکتو پورې کش کول کیږي.

### ۵ـ مخفف کلمي مد

کله چې د مد د حرف وروسته د مد سبب د سکون لازم په توګه په یوه کلمه کې راغلي وي او د مد سبب مشدد نه وي د کلمي مخفف په نوم یادیږي. سکون لازم دا چې د وقف او وصل دواړو حالاتو کې سکون اصلي وي تغیر نه کوي دا مد د قرآنکریم یوازې په یوه کلمه کې راغلی، لکه: آٰلْئٰنَ. د دې مد حکم هم لازم دی د شپږو حرکتونو په اندازه کش کول کیږي.

### ۶ـ مثقل حرفي مد

کله چې د مد حرف او سبب یې (سکون) په یو د مقطعاتو حروفو کې راشي او سبب یې شد لرونکي توري وي د مثقل حرفي مد په نامه یادیږي، لکه: الٓمّٓ، طٰسٓمّٓ. د دې مد حکم هم لازم دی؛ یعنې (مثقل حرفي لازمي مد هم ورته وایي) او د پنځو څخه تر شپږو حرکتو پورې کش کول کیږي.

ketabton.com - The Digital Library

### ۷ـ مخفف حرفي مد

کله چې د مد له حرف څخه وروسته په یو د مقطعاتو حروفو کې سبب (سکون) راغلی وي او مشدد نه وي د مخفف حرفي مد په نامه یادیږي، لکه: قٓ ۚ وَالۡقُرۡاٰنِ الۡمَجِيۡدِ۝[42]، صٓ وَالۡقُرۡاٰنِ ذِى الذِّكۡرِؕ۝[43]، نٓ وَالۡقَلَمِ وَمَا يَسۡطُرُوۡنَۙ۝.[44]

په دې حروفو کې څکه مد وي، چې (قاف) یا (نون) یا (صاد) کې د مد حرف ساکن ماقبل یې له خپله جنسه؛ یعنې (الف) ساکن ماقبل یې زور او (واو) ساکن ماقبل یې پېښ او وروسته یې سکون راغلی دی. د دې مد حکم هم لازم دی تر شپږو حرکتونو پورې کش کول کیږي.

### ۸ـ مد عارض لسکون

کله چې د مد له حروفو څخه وروسته سکون راشي او دغه سکون اصلي سکون نه وي، بلکې د وقف له کبله یو حرف ساکن شوی وي، نو دې ته عارضي سکون وایي او مد ته یې عارض لسکون مد وایي، چې دا هم د دوه حرکتونو، څلورو حرکتونو او شپږو حرکتونو په اندازه کش کول کیږي او د دې مد حکم هم جایز دی؛ یعنې په دې کې طول، توسط او قصر جواز لري، لکه: رَبِّ الۡعٰلَمِيۡنَ، الۡكٰفِرُوۡنَ، اَنَّ اللّٰهَ شَدِيۡدُ الۡعَذَابِ۝.[45]

### ۹ـ د لین لازم مد

لین نرمی ته وایي، چې دا صفت په دوو حروفو کې دی کله چې (واو) ساکن وي ماقبل یې زور لرونکی توری وي او یا (ي) ساکنه ماقبل یې زور لرونکی توری وي، چې دغه (و) او (ی) ته د لین حروف وایې؛ یعنې کله چې (و) او یا (ی) ساکن ماقبل یې زور لرونکی توری وي، نو په دې حالت کې مد کیږي که د دې مد سبب (سکون) اصلي وي د لین لازم په نامه یادیږي، لکه: كٓهٰيٰعٓصٓ، چې د عین په حرف کې لین لازم دی او حکم یې لازم دی؛ یعنې طول یې د پنځو څخه تر شپږو حرکتو او توسط یې تر دوه نیمو (۲.۵) حرکتو پورې کش کول کیدای شي او که د دې مد سبب (سکون) عارضي؛ یعنې د وقف له کبله وي د لین عارض سکون په نامه یادیږي، لکه: مِنۡ خَوۡفٍ، قُرَيۡشٍ، وَالصَّيۡفِ، چې د دې مد حکم جایز دی؛ یعنې طول، توسط او قصر جواز لري.

---

[42] [سورة قٓ: 1]


[43] [سورة صٓ: 1]

[44] [سورة الۡقَلَمِ: 1]

[45] [سورة البقره: 165]

ketabton.com - The Digital Library

## د مد ډلبندي



ketabton.com - The Digital Library

# اتم فصل

# د حروفو صفات

### د صفاتو پيژندنه

صفات جمع د صفت ده په لغت کې حالت کيفيت او يا ستاينې ته وايي او د تجويد په اصطلاح کې صفت هغه حالت يا کيفيت ته وايي، چې د حروفو له خپل مخرج څخه د صحيح اداء کولو پر وخت منځ ته راځي، لکه: په همس کې د غږ ورووالی، په جهر کې د غږ لوړوالی، په شدت کې د غږ سختوالی، په رخوت کې د غږ نرموالی، ادغام، اخفاء او نور. صفات هغه حروف سره بېلوي، چې مخرج يې يو وي او دا د لازمه او عارضه صفاتو ګډ تعريف دی.

**د صفاتو ډولونه**: صفات په دوه ډوله دي: ۱ـ صفات لازمه ۲ـ صفات عارضه.

### لومړی ـ صفات لازمه

صفات لازمه د حرف هغه کيفيت او حالت دی، چې تل ورسره لازم وي که دا صفت اداء نه شي حرف په بل حرف بدليږي يا نيمګړی کيږي يا په حرف کې خپل عربيت له منځه ځي، لکه: د (وَالصَّيْفِ) اوړي پر ځای (وَالسَّيْفِ) توره ويل، چې په دې سره معنی هم خرابيږي او لفظ هم بدليږي او داسې نور. صفات لازمه ته **ذَاتِيَه**، **مُقَومَه**، **مُمَيِّزَه** او **ضَرُوْرِيَه** هم وايي. **ذَاتِيَه** ورته له دې امله وايي، چې د دې صفت په نه اداء کولو سره د صفت ذات بشپړ نه اداء کيږي او **مُمَيِّزَه** ورته ځکه وايي، چې په دې صفت سره حروف د يو بل له مخرج نه بېليږي او **ضَرُوْرِيَه** ورته له دې امله وايي، چې د دې صفاتو شتون له خپلو حروفو سره ضروري دی.

### دوهم ـ صفات عارضه

صفات عارضه هغه صفتونه دي، چې له حرف سره کله وي او کله نه وي. که صفت عارضه اداء نه شي حرف په خپل حال پاتې وي، خو ښايست يې له منځه ځي، لکه: د (اَللّٰهِ) لفظ چې ډک ونه ويل شي، **اُولٰٓئِكَ** مد ونه شي په اِنَّ الَّذِيْنَ کې غُنه ونه شي.

**د صفات لازمه ډولونه**: صفات لازمه اوولس دي او په دوه ډوله ويشل کيږي:

**۱ـ متضاد لازمه صفتونه**

**۲ـ غير متضاد لازمه صفتونه**

ketabton.com - The Digital Library

**لومړۍ ـ متضاد لازمه صفتونه**: متضاد لازمه صفتونه هغه صفتونه دي، چې په مقابل کې بل ضد صفت ولري. متضاد صفتونه پنځه دي، چې له ضد سره لس کیږي.

| متضاد صفتونه | | |
|---|---|---|
| جهر (جهریه) | ضد | همس (مهموسه) |
| شدت (شدیدیه) | ضد | رخوت (رخویه) |
| استعلاء (مستعلیه) | ضد | استفال (مستفله) |
| اطباق (مطبقه) | ضد | انفتاح (منفتحه) |
| اذلاق (مذلقه) | ضد | اصمات (مصمته) |

## ۱ـ جهر

جهر په لغت کې څرګندوالي یا اعلان ته وایي او په علم تجوید کې د حروفو د اداء کولو په وخت کې د ساه بندېدل دي او ضد یې همس دی؛ یعنې د اداء کولو په وخت کې په مخرج کې آواز یا کاملاً بند شي او یا یوه برخه د هغه بنده شي. هغه حرفونه چې داسې خصوصیت لري، نو مهجوره بلل کیږي. حروف یې (عظُمَ وَزنُ قارئٍ غَضٍّ ذِی طَلَبٍ جِدٍّ) جمله کې جمع شوي دي.[46]

کله چې نوموړي حروف ساکن او یوه زور لرونکي همزه ورباندې داخله شي، نو ساه یا کاملاً بندیږي او یا یې یوه برخه بندیږي، نو که ساه کاملاً بنده شوه مونږ وایو، چې په دې حرف کې د جهر صفت ډېر قوي دی او که یې یوه برخه بنده شوه، نو وایو، چې په دې حرف کې د جهر صفت متوسط دی او که له هغه نه هم لږ بنده شي، نو وایو، چې د جهر صفت ضعیف دی.

## ۲ـ همس (مهموسه)

همس په لغت کې پټوالې یا کرار ویلو ته وایي او په علم تجوید کې د حرف د اداء کولو په وخت کې د ساه جریان دی؛ یعنې د اداء کولو په وخت کې په مخرج کې ساه نه بندیږي، بلکې جاري وي او په آواز کې یو ډول ښکته والی راځي، چې ښه مثالونه یې، لکه: **أسلفتم، اهدنا، واشکرولی** او داسې نور. هغه توري چې دغه صفت ولري، (مهموسه) بلل کیږي. حروف یې لس دي، چې عبارت دي له: سکت فحَثَّه شخص.[47]

---

[46] ژباړه: هغه قاري، چې له منکراتو څخه سترګې بندې کړي؛ پلټونکی او تلاش کوونکی وي؛ د کټونکو په لید کې درونډ او سنګین ښکاري.

[47] ژباړه: غلی او چپ وو، نو یو چا هغه تشویق کړ او ویې هڅاوه او مشهور ترکیب د دې داسې دی: (فحثه شخص سکت)، معنی یې بیا داسې کیږي چې: هغه یو غلي او خاموشه سړي وهڅاوه او په کار کولو یې مجبور کړ.

ketabton.com - The Digital Library

### ۳ـ شدت

شدت په لغت کې سختي یا قوت ته وایي او په علم تجوید کې د حرف د اداء کولو په وخت کې د صوت یا غږ بندېدل دي او کوم حروف چې دا صفت لري په سختۍ سره اداء کېږي؛ یعنې د اداء کولو په وخت کې په مخرج کې آواز په سختۍ سره ودرېږي او د آرامتیا په وخت کې آواز وربانديې بندېږي. حروف یې اته دي، چې په (اجدك قطبت) جمله کې جمع شوي دي.[48]

### ۴ـ رخوت

رخوت په لغت کې سستوالي یا نرمۍ ته وایي او په علم تجوید کې د حرف د اداء کولو په وخت کې جریان د صوت دی او کوم حروف چې دا صفت لري په کمزورۍ او نرمۍ سره اداء کېږي؛ یعنې د اداء کولو په وخت کې په مخرج کې آواز جریان پیدا کوي. هغه حرفونه چې دغه صفت لري (رخوه توري) بلل کېږي. حروف یې ۱۶ دي له (ث، ح، خ، ذ، ز، س، ش، ص، ض، ظ، غ، ف، هـ و، ي، ا) څخه عبارت دي.

## د شدت او رخوت په منځ کې صفت

د شدت او رخوت په منځ کې یو بل صفت شته، چې هغه ته توسط وایي.

### توسط

په لغت کې د منځ لارې په معنی راځي او په اصطلاح کې په داسې ډول د یو حرف اداء کول دي، چې د تلفظ پر مهال د شدت او رخوت ترمنځ وي؛ یعنې نه اواز په بشپړ ډول قطعه شي او نه په بشپړ ډول جریان پیدا کړي، بلکې منځنی حالت اختیار کړي. هغه حرفونه چې دغه صفت ولري (متوسطه او بینیه) بلل کېږي او پنځه توري لري: (ر، ع، ل، م، ن)، چې د (لن عمر) په عبارت کې راټول شوي دي.[49]

### ۵ـ استعلاء (مستعلیه)

استعلاء په لغت کې لوړوالي ته وایي او په علم تجوید کې د حرف د اداء کولو په وخت کې د ژبې پورته کیدل دي تالو ته او کوم حروف چې دا صفت لري اوچت او ډک اداء کېږي. داسې چې د اداء کولو په وخت کې د ژبې بېخ پورته تالو ته لوړېږي د لوړېدو له کبله دا تورې ډک تلفظ کېږي. هغه توري چې دغه صفت لري (مستعلیه) بلل کېږي. حروف یې اووه دي، چې په دې جمله کې جمع شوي: خص ضغط قظ.[50]

---

[48] تا خفه او ناخوښ وینم! او په بل عبارت هم جمع شوي دي (اجد قط بکت)؛ یعنې ښځه مې د قط په نامه پیدا کړه او ځینو قط د پیشو په معنی ذکر کړی دی.

[49] ژباړه: عمره نرمي وکړه!

[50] د (خص ضغط قظ) عبارت یوازې د اسانه یادولو په خاطر یو ځای شوی دی، کومه معقوله معنی نه لري.

ketabton.com - The Digital Library

### ۶ـ استفال (مستفله)

استفال په لغت کې ټيټوالي ته وايي او په علم تجويد کې له پاس تالو څخه د حرف د اداء کولو په وخت کې د ژبې ټيټوالی دی؛ يعنې د اداء کولو په وخت کې د ژبې بېخ تالو ته نه لوړيږي له دې کبله دا تورې نرم تلفظ کيږي. د نوموړي صفت لرونکو تورو ته (مسفله) ويل کيږي. حروف يې ۲۲ دي، چې عبارت دي له: (ء، ب، ت، ث، ج، ح، د، ذ، ر، ز، س، ش، ع، ف، ك، ل، م، ن، ه، و، ي، ا) او کوم حروف چې دا صفت لري نازك او نرم اداء کيږي.

### ۷ـ اطباق

اطباق په لغت کې تماس او نښليدو ته وايي او په علم تجويد کې کوم حروف چې دا صفت لري د حروفو د اداء په وخت کې د ژبې منځ د پورته تالو سره نښلي. هغه توري چې دغه صفت لري (مطبقه) بلل کيږي. حروف يې څلور دي: ص، ض ط، ظ.

### ۸ـ انفتاح (منفتحه)

انفتاح په لغت کې خلاصوالې يا بيلوالي ته وايي او په علم تجويد کې له پاس تالو څخه د حرف د اداء کولو په وخت کې د ژبې خلاصوالی دی او کوم حروف چې دا صفت لري د حروفو د اداء په وخت کې ژبه له تالو نه جلا وي. هغه توري چې دغه صفت لري (منفتحه) بلل کيږي. حروف يې (۲۵) دي، چې عبارت دي له: من أخذ وجد سعة فزكا حق له شرب غيث.

### ۹ـ اذلاق

اذلاق په لغت کې تيزئ ته وايي او په علم تجويد کې کوم حروف چې دا صفت لري د ژبې له اړخ او شونډو نه په تيزئ او آسانئ سره اداء کيږي. هغه توري چې دغه صفت لري (مذلقه) بلل کيږي. حروف يې شپږ دی، چې عبارت دي له: فَرَّ مِنْ لُبٍّ.[51]

### ۱۰ـ اصمات (مصمته)

اصمات په لغت کې چوپوالې ته وايي او په علم تجويد کې کوم حروف چې دا صفت لري د تلفظ په وخت کې ثقيل او سخت اداء کيږي. هغه توري چې دغه صفت لري (مصمته) بلل کيږي. حروف يې (۲۳) دي عبارت دي له: جز غش ساخط صيد ثقة إذ وعظه يحضك.

---

[51] ژباړه: له عقل څخه وتښتيد او که چېرته پورتني عبارت ته داسې اعراب ورکړل شي (فَرّ مَنْ لَبَّ)، نو معنی يې بيا داسې کيږي چې: هغه چا چې ځواب ورکړ وتښتيد.

ketabton.com - The Digital Library

## د هغه تورو جدول، چې متضاد صفتونه لري

| شمېره | صفت | شمېر | توري |
|---|---|---|---|
| ۱ | جهر | نولس توري | عظم وزن قارى غض ذي طلب جد |
| ۲ | همس | لس توري | سكت فحَثَّه شخص |
| ۳ | شدت | اته توري | اجدك قطبت |
| | توسط | پنځه توري | لن عمر |
| ۴ | رخوت | شپاړس توري | ث، ح، خ، ذ، ز، س، ش، ص، ض، ظ، غ، ف، هـ، و، ي، ا |
| ۵ | استعلاء | اووه توري | خص ضغط قظ |
| ۶ | استفال | دوه ويشت توري | ء، ب، ت، ث، ج، ح، د، ذ، ر، ز، س، ش، ع، ف، ك، ل، م، ن، ه، و، ي، ا |
| ۷ | اطباق | څلور توري | ص، ض، ط، ظ |
| ۸ | انفتاح | پنځه ويشت توري | من أخذ وجد سعة فزكا حق له شرب غيث |
| ۹ | اذلاق | شپږ توري | فر من لب |
| ۱۰ | اصمات | درويشت توري | جز غش ساخط صيد ثقة إذ وعظه يحضك |

### دوهم ـ غير متضاد لازمه صفتونه

غير متضاد هغه صفتونه دي، چې په مقابل کې بل ضد صفت ونه لري او غير متضاد صفتونه اووه دي: انحراف، قلقله، لين، صفير، تكرير، تفشي او استطالت.

### ۱ـ انحراف

انحراف په لغت کې کوږوالي ته وايي او په اصطلاح کې د حرف ميلان دی د ژبې له نوك څخه. دا صفت د (ل) او (را) په حروفو کې دی، چې د اداء په وخت کې د خپل مخرج څخه کم کوږوالی پيدا کوي.

### ۲ـ قلقله

په لغت کې حرکت او خوځښت ته وايي او په اصطلاح کې د تلفظ پر مهال حرف ته د هغه په مخرج کې لړزولو او حرکت ورکولو ته وايي. د قلقلې د حروفو صفت دا دی، چې د سکون په حالت کې د هغې د تلفظ پر مهال په مخرج کې خوځښت رامنځته کېږي. د قلقلې حروف پنځه دي، چې په (قطب جد) کې جمع شوي دي.

ketabton.com - The Digital Library

## د قلقلې اقسام

قلقله د اداء کولو له مخې درې قسمه ده:

- **قلقله کبری**

کله چې د قلقلې حرف مشدد وي او په آخر د کلمې واقع شوی وي هلته لویه قلقله تر سره کېږي، لکه دغه قول د الله سبحانه وتعالی: يَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ الْاَهِلَّةِ قُلْ هِيَ مَوَاقِيتُ لِلنَّاسِ وَالْحَجِّ [52] او (قَالُوا الْـٰٔنَ جِئْتَ بِالْحَقِّ). [53]

- **قلقله وسطی**

کله چې د قلقلې حرف ساکن وي په آخر د کلمې واقع وي او وقف ورباندې شوی وي او مشدد نه وي، نو متوسطه قلقله اداء کېږي، لکه دا قول د الله ﷻ: قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ. [54]

- **قلقله صغری**

کله چې د قلقلې حرف ساکن وي په منځ د کلمې کې راغلی وي کوچنۍ قلقله تر سره کېږي، لکه دا قول د الله تعالی: فِيْ مَقْعَدِ صِدْقٍ عِنْدَ مَلِيْكٍ مُّقْتَدِرٍ. [55]

## ۳ـ لين

د لين معنی ده سهولت او نرمي او دا حروف د اداء په وخت له مخرج څخه په نرمۍ سره اداء کېږي. هغه توري چې دغه صفت لري (د لين حرفونه) بلل کېږي. حروف يې دوه دي (واو، يا)، چې خپله ساکن وي ماقبل يې مفتوح (زور) لرونکی توری وي، لکه: (خوف، صيف، قريش) او داسې نور.

## ۴ـ صفير

د صفير معنی دا ده، چې د دغو حروفو د تلفظ پر مهال د شپيلۍ د آواز په شان آواز غوږ ته رسيږي له همدې کبله هغه ته صفيريه حروف وايي، چې له (ص، ز، س) حروفو څخه عبارت دي.

## ۵ـ تکرير

دا صفت يوازې په (ر) کې ليدل کېږي، چې د اداء په حالت کې يو ډول لړزه پيدا کېږي؛ يعنې د اداء په وخت ژبه رپيږي په داسې ډول، چې (را) تکرار تلفظ نه شي.

---

[52] [سورة البقره: 189]

[53] [سورة البقره: 71]

[54] [سورة الفلق: 1]

[55] [سورة القمر: 55]

ketabton.com - The Digital Library

**۶ـ تفشي**

تفشي په لغت کې شيندلو ته وايې دغه صفت د (ش) د حرف دی، چې د دې تورې د اداء کولو په وخت کې آواز په خوله کې خپرېږي.

**۷- استطال**

استطال په لغت کې اوږدوالې ته وايي او دا صفت لرونکی توری يواځې د (ض) حرف دی، چې د اداء په وخت کې د مخرج له شروع تر پايه ټول اضراس غاښونه نيسي.

**د اصلي غير متضاد صفتونو د حرفونو جدول**

| شمېره | صفت | شمېر | توري |
|---|---|---|---|
| ۱ | صفير | درې توري | ص، س، ز |
| ۲ | قلقله | پنځه توري | قطب جد |
| ۳ | لين | دوه توري | ساکن (واو) مخکې ترې فتحه او (يا) ساکنه مخکې ترې فتحه |
| ۴ | انحراف | دوه توري | ل، ر |
| ۵ | تکرير | يو توری | ر |
| ۶ | تفشي | يو توری | ش |
| ۷ | استطالت | يو توری | ض |

ketabton.com - The Digital Library

# نهم فصل

## حروف مقطعات

په قرآن کريم کې (۲۹) داسې سورتونه دي، چې په حروف مقطعات شروع کيږي. د مقطعاتو ټول حروف (۱۴) دي، چې مجموعه يې: صلهُ سَحِيْرًا مَنْ قَطعَكَ، ده. په دوی کې پنځه حروف (حَی طهُرَ) کې مد طبعي يا مد اصلي او مد صله کيږي او اووه حروف (سَنَقُص لکُمْ) کې مد لازم کيږي او په يو حرف (عين) کې مد لين کيږي او په الف کې هيڅ مد نه کيږي. مقطعات په عربي ژبه کې پري شوي ته وايي له دې امله چې دا حروف هم هر يو بېل، بېل اداء کيږي د يو بل نه پرې دي، نو مقطعات ورته وايي، د بېلګې په ډول د سورة البقره په پيل کې (الٓمٓ) چې داسې لوستل کيږي: الف، لام، ميم. په دې حروفو کې يوازې (الف)، چې حروف مده نه لري مد نه پرې کيږي.

ketabton.com - The Digital Library

## د ځینو مشابه حروفو تر منځ فرق

د (ذ) او (ز) ترمنځ فرق: د (ذ) مخرج: کله چې د ژبې نوک د پاسنیو ثنایا غاښونو له څوکې سره ولګیږي د (ذ) توری اداء کیږي. د (ز) مخرج: کله چې د ژبې څوکه د لاندنیو ثنایا غاښونو د بېخ سره ولګیږي د (ز) توری اداء کیږي، نو ویلای شو، چې د (ذ) په اداء کې د ژبې څوکه بیرون خوا ته راوځي ولې د (ز) په تلفظ کې نه راوځي او (ز) حرف د صفیر صفت لري، چې مخکې بیان شو د شپیلی په شان اواز لري.

د (ث) او (س) تر منځ فرق: د (ث) او (س) حروفو تر منځ همداسې فرق دی، لکه د (ذ) او (ز) تر منځ چې موجود وو، ځکه (س) د (ز) له مخرج څخه اداء کیږي او د صفیر صفت لري په داسې حال کې، چې (ث) د (ذ) له مخرج څخه اداء کیږي د همس صفت او رخوت په هغه کې واضح دی.

د (ظ) او (ض) تر منځ فرق: د (ظ) مخرج: هرکله چې د ژبې د نوک زیاته برخه د پاسنیو ثنایا غاښونو له څوکې سره ولګیږي د (ظ) حرف اداء کیږي.

د (ض) مخرج: کله چې د ژبې یو اړخ د پاسنیو اضراس غاښونو سره ولګول شي د (ض) توری تلفظ کیږي البته له چپې خوا څخه یې اداء کول آسانه دي، نو ځکه د (ظا) مخرج له (ض) نه لرې دی او بل دا چې د (ض) حرف د استطالت صفت لري، چې بل په هیڅ کوم حرف کې دا صفت نشته.

هغه حروف چې همېشه ډک یا مفخم تلفظ کیږي او مستعلیه حروف ورته وایي (۷) دي: خص ضغط قظ.

د (س) او (ص) تر منځ فرق: کله چې د ژبې څوکه د لاندنیو ثنایاوو د داخل طرف سره ولګول شي، نو د (ز، س، ص) توري اداء کیږي، خو دومره توپیر شته، چې د (ص) حرف د استعلاء د صفت د لرلو له کبله ډک اداء کیږي او د (ز) او (س) حروف تش یا باریک اداء کیږي.

ketabton.com - The Digital Library

# د سورت فاتحه (الحمد لله) تجوید

## عملي مثالونه

د سورت فاتحې (الحمد لله) تجوید، ځکه مهم دی، چې په هر لمانځه کې لوستل کیږي، چې د تجوید ځینې احکام یې په لاندې ډول دي:

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝

د (اَلْحَمْدُ) په سر کې همزه، همزه وصل ده چې د لام سره جنګیږي، په (رَبِّ) کې (را) توری ډک لوستل کیږي او (با) مشدد لوستل کیږي. د (دال) حرف پیښ لري، چې باید دومره اوږد نه شي، چې د (واو) په شان تلفظ شي، چې (اَلْحَمْدُوْ) وویل شي. د (ح، ع) حروف د ستوني له وسط څخه راوځي. په (الْعٰلَمِيْنَ) کې د (ع) په توري باندې ولاړ زور دی، چې طبعي مد دی، چې د دوو حرکتونو په اندازه کش کول کیږي. په (الْعٰلَمِيْنَ) کې د وقف په حالت کې د سکون له کبله عارض مد دی، چې د (ی) حرف دوه یا څلور یا شپږ حرکته کش کول کیږي، ځکه چې د مد د حرف (ی) وروسته سکون (نْ) راغلی دی، چې قصر او مد دواړه په کې جایز دي.

الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ۝

د (الرَّ) په سر کې همزه وصل ده، چې د (را) سره جنګیږي او (را) مشدده لوستل کیږي، لام نه لوستل کیږي، ځکه د لام وروسته شمسي حرف راغلی دی، هر ځای مو چې د لام وروسته مشدد حرف لیدلو هغه شمسي حرف دی، چې مشدد لوستل کیږي او لام نه لوستل کیږي. شد د دوو حروفو د تکرار نښه ده، چې لومړی ساکن او دوهم متحرک وي لومړی حرف په دوهم کې مدغم (داخل) شوی وي، نو مشدد حرف به د اداء کولو په وخت کې داسې لوستل کیږي، لکه دوه حروف. په (الرَّحْمٰنِ) کې (میم) په الف ولاړ دی. په (الرَّحِيْمِ) کې د وقف په حالت کې د سکون له کبله عارض مد دی که چېرې وقف تر سره شي د دوه یا څلور یا شپږ حرکته کش کول کیږي، ځکه چې د مد حرف (ی) وروسته سکون (مْ) راغلی دی. په (الرَّ) کې حرف (را) مشدد لوستل کیږي، ځکه شمسي حرف دی او لام نه لوستل کیږي، همدارنګه په حرف (را) کې تفخیم دی (ډکه لوستل کیږي).

مٰلِكِ يَوْمِ الدِّيْنِ ۝

په (مٰلِكِ) کې د میم حرف د دوو حرکتونو په اندازه کش کول کیږي، ځکه چې طبعي مد دی؛ په (الدِّيْنِ) کې لام نه تلفظ کیږي د (دال) حرف شمسي مشدد دی داسې لوستل کیږي (ادِّيْنِ). همدارنګه د (کاف) حرف زیر لري، چې باید ساکن ونه لوستل شي او زیر دومره اوږد نه شي، چې (ی) ترې تلفظ شي.

په (الدِّيۡنِ) کې د وقف په حالت کې د سکون له کبله عارض مد دی، چې دوه یا څلور یا شپږ حرکته کش کول کېږي، ځکه چې د مد حرف (ی) وروسته سکون (نۡ) راغلی دی.

اِيَّاكَ نَعۡبُدُ وَاِيَّاكَ نَسۡتَعِيۡنُ ؕ

په (اِيَّاكَ) کې (ی) مشدد لوستل کېږي. په (نَسۡتَعِيۡنُ) کې د وقف په حالت کې د سکون له کبله عارض مد دی، چې دوه یا څلور یا شپږ حرکته کش کول کېږي، ځکه چې د مد حرف (ی) وروسته سکون (نۡ) راغلی دی.

اِهۡدِنَا الصِّرَاطَ الۡمُسۡتَقِيۡمَ ۙ

د (ها) حرف د ستوني له اخري برخې څخه را وځي، مګر د (حا) حرف د ستوني له وسط څخه راځي، (ها) به د (حا) په څېر نه اداء کېږي. د (صاد، طا) په حروفو کې د استعلاء صفت دی، چې لوړ، اوچت او ډک اداء کېږي؛ یعنې د اداء کولو په وخت کې د ژبې بېخ پورته تالو ته لوړېږي د لوړېدو له کبله دا توري ډک تلفظ کېږي، د استعلاء صفت لرونکي حروف دا دي: خُصَّ ضَغطٍ قِظ. په (الصِّرَاطَ) کې لام نه لوستل کېږي؛ (صاد) چې شمسي حرف دی مشدد لوستل کېږي. د (قاف) حرف هرکله چې د ژبې پای له نرم تالو سره ولګېږي د (ق) توری اداء کېږي. د (کاف) مخرج د لوی (قاف) مخرج سره نږدې لږ د خولې طرف دی، په (قاف) کې د استعلاء صفت دی، چې اوچت تلفظ کېږي، مګر په (کاف) کې د استفال صفت دی، چې ټيټ لوستل کېږي. په (الۡمُسۡتَقِيۡمَ) کې هم د وقف په صورت د سکون له کبله عارض مد دی.

صِرَاطَ الَّذِيۡنَ اَنۡعَمۡتَ عَلَيۡهِمۡ

په (صاد، طا) حروفو کې د استعلاء صفت دی ډک تلفظ کېږي. (الَّذِيۡنَ) کې د لام حرف مشدد لوستل کېږي. په (اَنۡعَمۡتَ) د (نۡ) او (مۡ) حروف ښکاره لوستل کېږي، ځکه چې ادغام او اخفاء په کې نشته، بلکې د ساکن نون اظهار او د ساکن میم اظهار شفوي دی.

غَيۡرِ الۡمَغۡضُوۡبِ عَلَيۡهِمۡ وَلَا الضَّآلِّيۡنَ ۠

د (غ) حرف د ستوني له اولې برخې څخه راوځي اوچت او ډک لوستل کېږي. د (ض) حرف: کله چې د ژبې اړخ د ښي طرف یا چپ طرف د پاسنيو اضراس (د ژامې) غاښونو سره ولګول شي د (ضاد) حرف اداء کېږي او د (ضاد) په حرف کې د استعلاء صفت دی لوړ او ډک تلفظ کېږي. په (عَلَيۡهِمۡ) کې ساکن میم کې اظهار تر سره کېږي څرګند او ښکاره لوستل کېږي. په (وَلَا الضَّآلِّيۡنَ) د ضاد د تشدد په وجه (الف، لام) دواړه نه اداء کېږي او (ضاد) مشدد لوستل کېږي.

ketabton.com - The Digital Library

په (الضَّآلِّيْنَ) کې د الف حرف د شپږو حرکتونو په اندازه کش کول کېږي، ځکه چې مثقل حرفي لازم مد دی د حرف مد (الف) وروسته سکون په مشدد ډول، چې د (لام) حرف دی راغلی دی. په (لِّيْنَ) کې هم د وقف له کبله عارض مد دی، چې د (ی) حرف د دوو، څلورو یا شپږو حرکتونو په اندازه کش کول کېږي.

ketabton.com - The Digital Library

# لسم فصل

## د تلاوت طريقې

د تلاوت طريقې څلور دي:

### ۱ـ ترتيل

عبارت د هغه تلاوت څخه دی، چې په ډېر اطمينان سره وشي، د تجويد احکام په کې مراعات کړل شي او هر حرف په خپل مخرج کې سره له صفته اداء شي او د هغه په معنی کې تدبر او فکر وشي.

### ۲ـ حدر

عبارت د هغه تلاوت څخه دی، چې سرعت يې زياد، مګر ټول حروف په خپلو مخرجونو کې اداء شي او د تجويد ټول احکام مراعات شي، چې دغه ډول تلاوت په تراويحوکې کيږي داسې نه لکه نن سبا چې زمونږ په هيواد کې د روژې مروج ختمونه کيږي، چې نه يې اخفاء معلوميږي او نه يې اظهار، نه يې وقف معلوميږي او نه يې وصل او نه څوك وربانديې پوهيږي او بيا وايي، چې ما حدر وويل؛ داسې کول په کار نه دی الله ﷻ د مونږ او دغه قاري صاحبانو ته هدايت وکړي.

### ۳ـ تدوير

هغه تلاوت ته وايي، چې نه ډېر تېز او نه ډېر ورو وي، بلکې د ترتيل او حدر په منځ کې وي، چې دا ډول تلاوت په روزانه ګردان يا تلاوت کې کيږي.

### ۴ـ تحقيق

هغه تلاوت ته وايي، چې ډېر په کراره سره وشي؛ يعنې د هر حرف حق د تجويد د احکامو مطابق اداء شي او د هر نوع زيادت او نقصان څخه پاك وي.

ketabton.com - The Digital Library

# د قرآن کريم قراءات

تعريف: القراءات جمع قراءة ده، چې له مصدر د قرأ، يقرأ او قرانا څخه دی په معنی د لوستلو يا جمع کولو په اصطلاح کې علم قراءات هغه علم دی، چې د قرآن کريم د الفاظو د اداء کولو څخه بحث کوي.

د جناب نبي اکرم ﷺ څخه اووه قسمه او په ځينو رواياتو کې لس قسمه قراءات ثابت شوي دي. د ابن عباس رضي الله عنه نه روايت دی، چې رسول الله ﷺ فرمايي: أَقْرَأَنِي جِبْرِيلُ عَلَى حَرْفٍ فَلَمْ أَزَلْ أَسْتَزِيدُهُ حَتَّى انْتَهَى إِلَى سَبْعَةِ أَحْرُفٍ.[56]

ژباړه: جبريل اول ماته يو قسم قرائت راوښود ما له هغه وغوښتل چې ماته نور قرآءات هم راوښايي تر دې چې اووه قرائت ته ورسيدل.

## د (سبعة احرف) په معنی کې د علماوو اقوال

امام سيوطي په علوم القرآن کې ويلي دي، چې په دې باره کې د علماوو څلويښت اقوال دي، چې بيا يې ځينې مشهور اقوال په لاندې ډول بيان کړي دي:

۱ـ خپله د حرف معنی څرګنده نه ده.

۲ـ د دې څخه په حقيقت کې اووه عدد مراد نه دی، بلکې د دې څخه مراد اساني او توانايي ده.

۳ـ د دې څخه مراد اووه قراءات دي.

۴ـ د دې څخه مراد اووه لهجې دي، چې معنی يې متفقه، مګر په نحوي او لفظي ډول فرق لري، لکه: أقبل، وتعالَ، وهلمّ، وعجّل، وأسرِعْ، وعن أُبَىٍّ.

۵ـ د دې څخه مراد د تلاوت پر مهال د نطق کيفيت دی، لکه: ادغام، اظهار، تفخيم او ترقيق، اشباع، مد او قصر، تشديد او تخفيف، تليين او تحقيق.

۶ـ او د دې څخه د عربي ژبې اووه ژبې مراد دي کوم چې د عربي فصيح ژبې دي. (مختصر اتقان في العلوم القرآن ص ۹۳)

علوم القرآن الاکاديمية الاسلامية ليکي:

قول جمهور أهله الفقه و الحديث: المراد بالأحرف السبعة، سبع لغات من لغات العرب تختلف في اللفظ وتتفق في المعنى، هو ما يسميه العلماء بالمترادف. المترادف؛ يعني اللفطة تختلف ولكن المعنى واحد.

ژباړه: د اهل فقه او حديث جمهور قول دا دی، چې: د حرف السبعة څخه مراد د عربو د ژبو څخه اووه ژبې يا اووه لهجې دي، چې معنی يې يو شان، مګر په لفظ کې فرق لري کوم چې هغه ته علماء مترادف وايي، مترادف داسې چې: معنی يې يوه، مګر الفاظ يې مختلف وي.

---

[56] (بخاري: ۳۲۱۹)

ketabton.com - The Digital Library

## د قرائت د اختلاف حکمت

۱ـ د امت د پاره تسهيل، اساني او تخفيف.

۲ـ د قرآن کريم او اسلامي امت عزت او شرف چې بل هيڅ اسماني کتاب په څو قراءاتو نه دی نازل شوی.

۳ـ د قراءات په تفاوت کې تحقيق او څېړنه او په دې باندې د اجر حاصليدل.

۴ـ د قرآن کريم لوړ اعجاز.

۵ـ د الله سبحانه وتعالی د کلام د اسرارو اظهار. (مختصر أتقان في العلوم القرآن ص ۱۰۷)

## د قرآن کريم تعليم او حفظ

د قرآن کريم حفظ او يادول په امت باندې فرض کفايي دی، که چېرې د هغه د حفظ له پاره يوه ډله راولاړه شي د نورو غاړه وربانديې خلاصيږي او که ټول دا کار ترک کړي د ټولو غاړه بنديږي.

د قرآن کريم دومره زده کړه او يادول چې لمونځ او عباداتو کې هغه ته ضرورت دی فرض عين او د هغه څخه علاوه د قرآن کريم زده کړه فرض کفايي ده او ډېر غوره عمل دی؛ په صحيح روايت کې راغلي: خيركم من تعلم القرآن وعلمه.[57]

ژباړه: په تاسو کې د ټولو نه بهتر او افضل هغه کس دی کوم چې د قرآن علم حاصل کړي او نورو ته يې هم وښايي. د ابن مسعود رضي الله عنه نه روايت دی، چې هغه ويلي: (جودوا القرآن) لولئ په ښه شان قرآن. او هغه دا چې د هر حرف حق اداء شي او حرف د خپل مخرج څخه اداء شي او په غوره شان تلفظ شي داسې چې په هغه کې اسراف، ظلم او افراط نه وي.

جناب رسول الله صلی الله عليه وسلم دې مطلب ته داسې اشاره کوي: من أحب أن يقرأ القرآن غضاً كما أنزل فليقرأه على قراءة ابن أم عبد؛ يعني ابن مسعود.

ژباړه: د چا چې دا خوښيږي، چې قرآن داسې ولولي، لکه څنګه چې نازل شوی دی پس هغه دې د ابن مسعود رضي الله عنه په شان ولولي. الله تعالی ابن مسعود رضي الله عنه ته په تجويد کې اوچت مهارت ورکړی وو.

---

[57] (رواه البخاری)

ketabton.com - The Digital Library

## د ځينو مهمو قاعدو يادونه

۱ـ د سورة الکهف په (۳۸) آيت کې لٰكِنَّا۠ هُوَ اللّٰهُ يعنې په لٰكِنَّا۠ کې الف ليکلی دی، خو نه ويل کيږي، خو که چېرې څوک پر دې باندې وقف وکړي، نو په دې وخت کې به دا الف ويل کيږي.

۲ـ په سورة الدهر کې (قَوَارِيْرَا۠ قَوَارِيْرَا۠) دوه ځلې راغلی دی او په دواړو په آخر کې الف ليکلی دی، نو د دې قاعده دا ده، چې په دوهم ځای کې الف په هيڅ حالت نه ويل کيږي که د وقف حالت وي او که نه وي. او په اول ځای کې که چېرې وقف وشي، نو الف ويل کيږي او که چېرې وقف ونه شي، نو الف نه ويل کيږي، خو ډېر عادت دا دی، چې په اول ځای کې وقف کوي او په دوهم کې وقف نه کوي په دې صورت کې په اول ځای کې الف واياست او په دوهم ځای کې الف مه واياست.

۳ـ په سورة الحجرات کې په بِئْسَ الِاسْمُ کې د اَلِاسْمُ همزه نه ويل کيږي، بلکې د دې لام به د دې سين سره يو ځای کړل شي.

۴ـ لَئِنْ بَسَطْتَّ، اَحَطْتُّ، مَافَرَطْتُّمْ او مَافَرَّطْتُّ کې ادغام ناتمام ناقص کيږي؛ يعنې (طا) او (تا) يو ځای کړئ او مشدد يې کړئ او داسې يې وواياست، چې (طا) د خپل استعلاء او اطباق سره بې له قلقلې ډکه اداء شي او تا باريکه اداء شي.

۵ـ په سورة الکهف کې د (عِوَجًا قَيِّمًا) کلمه ده، که چېرې په (عِوَجًا) باندې وقف ونه شي او د وروسته لفظ سره يو ځای شي، نو اخفاء نه کيږي، بلکې د دوو زورو تنوين به په الف سره بدل شي او سکته به وشي.

۶ـ کله چې پر واو مشدد يا (ی) مشدد وقف وشي، نو هلته تشديد (شد) يو څه په سختۍ سره ويل په کار دی تر څو تشديد په خپل حال پاته وي، لکه: عَدُوًّا، عَلَى النَّبِيِّ.

۷ـ څلور لفظونه په قرآن کريم کې ليکلي خو په صاد سره دي او پر دغه صاد باندې يو کوچنی سين هم ليکلی دی، نو د دې قاعدې په لاندې ډول دي:

يو په سورة البقر کې د يَقْبِضُ وَيَبْصُۜطُ کلمه ده، دوهم ځای په سورة الاعراف کې د فِي الْخَلْقِ بَصْۜطَةً کلمه ده، په دغه دواړو ځايونو کې سين واياست. دريم په سورة الطور کې اَمْ هُمُ الْمُصَۜيْطِرُوْنَ کلمه ده، په دې کې که مو خوښه وي سين يې واياست او که مو خوښه وي صاد يې واياست. څلورم په سورة الغاشيه کې د مُصَۜيْطِرٍ کلمه ده، په دې کې صاد واياست.

۸ـ د سورة يوسف په دوهمه رکوع کې لَا تَأْمَنَّا لفظ دی په دې کې پر نون باندې اشمام کوئ.

۹ـ په قران کريم کې څو ځايه ليکلی لَاْ دی، او ويل کيږي لَ، د تلاوت په وخت کې د دې ډېر خيال وساتئ، چې هغه په لاندې ډول دي:

ketabton.com - The Digital Library

۱ـ یو په سورة آل عمران کې لَاْ اِلَی اللّٰهِ تُحْشَرُوْنَ کلمه ده.

۲ـ په سورة التوبه کې وَلَاْ اَوْضَعُوْا کلمه ده.

۳ـ په سورة النمل کې اَوْلَاْ اَذْبَحَنَّهٗ کلمه ده.

۴ـ په سورة الصفت کې لَاْ اِلَی الْجَحِیْمِ کلمه ده.

۵ـ په سورة الحشر کې لَاْ اَنْتُمْ اَشَدُّ کلمه ده.

همدا ډول د سورة آل عمران په پنځلسمه رکوع کې لیکلي دي اَفَاْئِنْ خو ویل کیږي اَفَئِنْ او په شو ځایونو کې لیکلي دي مَلَاْئِهٖ خو مَلَئِهٖ ویل کیږي. د سورة الکهف په څلورمه رکوع کې لیکلي دي لِشَاْیْءٍ او ویل کیږي لِشَیْءٍ او په ځینو ځایونو کې لیکلي دي نَبَاْئِ او ویل کیږي نَبَئِ.

۱۰ـ د سورت الدهر په اوله رکوع څلورم آیت کې سَلٰسِلَاْ یعنې د دوهم لام وروسته هم الف لیکلی دی، خو دا هم نه ویل کیږي، خو د وقف په حالت کې الف ویل نه ویل دواړه صحیح دي.

۱۱ـ د سورت النمل په (۲۱) آیت کې لَاَاذْبَحَنَّهٗ لیکلی، خو ویل کیږي لَاَذْبَحَنَّهٗ.

۱۲ـ د سورت الحشر په (۱۳) آیت کې لَاَانْتُمْ لیکلی، خو ویل کیږي لَاَنْتُمْ.

همداشان د قرآن کریم په نورو ځایونو کې هم الف لیکلی وي او پاسه وروباندې کوچنی دایره هم وي، خو ویل کیږي نه، لکه: ثَمُوْدَاْ، لَنْ نَّدْعُوَاْ، وَنَبْلُوَاْ، وَلٰکِنْ لِّیَبْلُوَاْ، تَبُوْٓءَاْ، اَنَاْ، یَرْبُوَاْ، لِتَتْلُوَاْ.

ketabton.com - The Digital Library

## ماخذونه

1- حکیم الامت حضرت مولانا حافظ مقري شاه محمد اشرف علي تهانوي رحمه الله، (۱۳۹۲) جمال الفرقان، پوهه خپرندويه ټولنه/ کندهار.

2- حمد الله شاکري، تحفة الاحسان تجويد القرآن.

3- قاري نور الله عزام، (۱۴۰۰) جمال الفرقان، نفيس خپرندويه ټولنه.

4- مير رفيع الله منيب، (۱۳۹۸) تجويد.

5- تجويد آسان، دوکتور ابو عاصم عبدالعزيز، مترجم عبدالکريم محمدي.

6- المخلص المفيد في علم التجويد، محمد احمد معبد، مدرس القرآن الکريم والتجويد بالمسجد النبوي الشريف.

7- تجويد ابتدايي، محی الدين مرادی.

8- المذکره فی التجويد، محمد نبهان بن حسين مصري.

9- www.dawat610.com آن لاين اسلامي لارښود

10- https://surahquran.com/Tajweed/capital-letter-exits.html

ketabton.com - The Digital Library

## د لیکوال پیژندنه

شاه ولي ځاځی د محمد غلام زوی، د پکتیا ولایت ځاځي اریوب ولسوالی اوسیدونکی دی. په ۱۳۷۹هـش کال، چې د 2001م کال سره سمون خوري په ځاځي آریوب کې پیدا شوی دی. د ښوونځي دوره یې په ۱۳۹۷هـش کال، چې د 2018م کال سره سمون خوري د اریوب عالي لېسې څخه بشپړه کړې. په ۱۳۹۸هـش کال، چې د 2019م کال سره سمون خوري د کانکور ازموینې له لارې د پکتیا پوهنتون اقتصاد پوهنځي د اداره او تشبثاتو (BBA) څانګې ته بریالی شو، چې نوموړې څانګه یې په ۱۴۰۲هـش کال، چې د 2023م کال سره سمون لري په بریالیتوب سره پای ته ورسوله. تر دې دمه نوموړی یو کتاب لري، چې هغه د تجوید علم کتاب دی.

په درنښت

Whatsapp Numbers: +93771685095 - +93798263526
Email Address: shahwalizazai87@gmail.com
Facebook Adress: Shah Wali Zazai

ketabton.com - The Digital Library

# The Science of Tajweed

Author: Shah Wali Zazai

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*